گرزنی ادب

لیکوال:

عبدالکریم پشنګ

۱۳۵۷

سریزه

ادب دټولنې داقتصادي، سیاسي اجتماعي او کلتوري ژوند هنداره ده، په تېره بیا شفاهي او عامیانه ادب که نثروي او یا نظم خو دو کړو عملي روان ژوند ځنګه چې دی په هم هغه ډېره انعکاس ورکوي. همدا وجه ده چې ټولنپوهان او سیکالوجستان دټولنو او اولسونو په مطالعه پېژندنه کې دیوې مهمې منبع په توګه هغې ته مراجعه کوي.

دنړۍ ټول اولسونه دخپلو خاصو عیني او ذهني شرایطو دننه ځانته خاص کلتور او فرهنګ لري چې دهغوی په خپله ساده ژبه دنظم، نثر کیسو، متلونو او فالونو په قالب کې سینه په سینه او خوله په خوله دیو نسل نه بل ته انتقالیږي او ساتل کیږي.

همدا ډول دپښتو ادب ډېره غوره او مهمه پانګه دخلکو په ګړني ادب کې پرته ده چې د پښتون اولس د اقتصادي او اجتماعي ژوند کسب او کار او ددوی درواجونو او دودونو یو ښه انځور رسموي.

دمثال په ډول دپښتو لنډۍ دهغو ښځو او نرو دځوریحو مخلوق دي چې له ایلک او لوست څخه محروم پاتې وو او په شفاهي توګه ددوی په منځ کې دهر ډول اجنبي او بیګانه تاثیراتو نه په امن ساتل شویدي او دخلکو دژوندانه داسې ژور او سپېڅلي احساسات پکې شته چې دحاکم، خان او بادارستاینې او مداحې پکې نه لیدل کیږي، ځکه چې دغه خلک واقعاً له ریا او تظاهر نه کرکه کوي.

دا کتاب چې دپتنګ یو فولکلوري اثر دئ او دخوست له سیمې څخه یې پکې ډېرې ناچاپه لنډۍ، متلونه، قصې او داتڼ نارې راټولې کړیدې دښوونې او روزنې دوزارت دتألیف او ترجمې ریاست دعرفان مجلې له خوا چاپ شو.

عرفان دپتنګ دغه زیار دستاینې وړ بولي او دا اولسونو دفولکلوري او با ارزښته آثارو په راغونډونه او ساتنه کې د ده او هم دنورو ورنو فولکلوریستانو او اولسي ادب لیکوونکو توجه او پاملرنه غواړي.

سمیع الله ساپی دعرفان دمجلې مرستیال

دلوستونکو سره خبري

دهیواد په خپرو نوکي دځینو شاغلو له خوا د افغاني فولکلور په برخه کي دا خبره ډیره زیاته اوریدل او لیدل کیږي ، چې وایي : «دافغاني فولکلورله پاره ډیر کارنه دئ شوئ ، او هغه څه چې شوي بیاهم زموږ دهغې کلتوري ذخیرې په نسبت چې په خلکو کي تر اوسه پوري شته ، هیڅ دئ . » دهغې علاقې له مخې چې زه یې دپښتو دشفاهي ادبیاتو دټولولو سره لرم او دادرې کاله کیږي چې په دې برخه کي پلټنه کوم او دکلیو او بانډو له خلکو څخه ددغې قیمتي کلتوري ذخیرې مرغلرې راټولوم ددغو هڅو په جریان کي دا راته معلومه شوه چې واقعاً زموږ دا ولس په سینو کي داملي شتمني ډیره زیاته پرته ده او کوم کار چې په دې برخه کي شوي بیاهم لږ دئ .

لکه څنګه چې لوړه مې یې یادونه هم وکړه دادرې کاله کیږي چې دافغاني فولکلور په ټولولو اخته یم او ډیر مواد مې په دې برخو کي راټول کړي دي . زما ددغو هڅو په نتیجه کي دوې رسالې خپرې شوې چې یوه یې «فولکلوري مرغلرې» او بله یې «دخلکو تجربې» نومیږي چې دغه دواړه رسالې تیر کال (۱۳۵۶) کي چاپ شوي دي .

دا رساله چې ستاسو محترمو لوستونکو مخې ته پرته ده ددې مواد مې هم په اصلي شکل دخلکو له خولو راټول کړي کوم تصرف مې نه دی پکې کړی او په هماغه ډول مې ضبط کړي دي .

ددې رسالې موادمې لومړی په دووبرخوویشلی دي : په لومړی برخه کی یې منظوم شفاهی ادبیات راغلی دي چی لنډۍ دښځواتڼ اوداتڼ سندرې دماشومانوسندرې اوساندې پکی راځی .

دوهمه برخه یې منثور شفاهی ادبیات دي چې په هغې کی متاونه دمتلونوقصی اونکلونه راوړل شوي دي اوتردې وروسته بیا دریم فصل دودونوته وقف شوئ دئ .

ددې رسالې موادمولومړی له زیاتروچاپی دغه ډول آثاروسره پرتله کړل او کوښښ موو کړچې څه داسې موادپکی راوړوچې تراوسه نه وي چاپ شوي . دخوست دسیمی داولسی ادبیاتوپه باب تراوسه کوم داسی اثرنشته چې په هغه کی دې دشفاهی ادبیاتوموادپه ځانګړي ډول راټول شوي وي .

ددې سیمې دټولو فولکلوري مظاهروټولولوته زیاته توجه لازمه ده چې البته دوخت په پیداکیدوسره به زه بیاهم دې لړۍ ته ادامه ورکړم اودخوست دسیمې فولکلور به راټول کړم اوپه چاپی شکل به یې خوندي اوله ضیاع نه وساتم .

څرنګه چې ددې رسالې زیاتره برخه‌مې دخپلې نیا(دپلارمور) محترمې تروورشافعې اوخپلې محترمې تروورزۍ نعمت بی بی له خولې لیکلې ده نوله دړې واړوڅخه زیاته مننه کوم .

عبدالکریم پټنګ

فهرست

منظوم ګرنی ادب — لومړی فصل

لنډۍ ۱

دماشومانو سندری ۱۸

سانډی ۲۶

دښځو اتڼ او داتڼ سندری ۲۹

منثور ګرنی ادب — دوهم فصل

متلونه ۴۲

دمتلونو قصی ۵۷

نکلونه ۵۸

دریم فصل

دودونه ۹۴

Folk Literature

by

A. Karim Patang

Published

by

ERFAN

Education Press

1978

PROPERTY ACKU

لومړی فصل

منظوم ګړنی ادب

لنډۍ

دپښتو ادب یو نامدون او دعوامی سندرو یو ښه ډول لنډۍ او ټپـی دي چې د غه ډول ادبی تخلیقا ت ددې ژبې یـوه خـاصه او ډیره قیمتی ذخیر ه ده. که چیرې دپښتنو په روحیاتو او ملی خصوصیاتو کی دمطالعې ضرو رت پیښ شي ، نوضرور باید مطالعین د پښتود عوامـی تخلیق دغې رنګینې برخې ته رجوع و کړي .

دلنډ یو په جوړولو او ویلو کې دمیرمنو برخه ډیره درنه او لویه ده. دپښتود شفاهي ادب دغه غوره اوسپیڅلې پانګه تقریباً تر نیمائی زیانه دمیرمنو د قریحو مخلوق دی، او ډیرې ښې لنډ ۍ د پښتنې میرمنو لـه خوا د جنګو پر میدان اود عشق په مرحلو کې ویلې شوې دي . (۱)

پښتو لنډۍ هرډول مضامین لري: دعشق او مینې ډیر دردناک رموز دمهجوریو او وصل نأ ثرات ،د پښتنې ماحول ناخوالې او په جامعه کې

---

(۱) وګورۍ دزیری کالنۍ ۱ـ ٦ مخونه ، دپوهاند ښیبې مقاله

شته طبقاتي تضادات تول په هغو کې سري پيدا کولای شي . دلنډيو په فورمي اوموضوعي خواوو باندې څه ليکل د يوه ځانته کتاب ايجاب کوي (۲) زه دلته دلنډيو په دغو اړخونو زياتې خبرې ځکه نه کوم چې زما له موضوع سره اړه نه لري، او هم ځينو ښاغلو ليکوالو په دې برخه کې مفصلې خبرې کړيدي چې د هغوی د خبرو تکرار به دلته بې ځايه وي.

ما په خپله سيمه کې داسې لنډۍ راټولې کړې چې تر اوسه د لنډيو په چاپي مجموعو کې نه دي راغلې، که ځينې سره ورته لنډۍ زما په راټولو کړو لنډيو کې پيدا شي، نو هغه به يې اختلافي شکل وي. اوس زه دلته لازمه ګڼم محکې تر دې چې هغه لنډۍ راوړم په دې برخه کې د نورو محترمو ليکوالو او فولکلوريستانو د زيار يادونه هم وکړم.

کله چې موږ د لنډيو د ټولو لو په سير باندې خبرې کوو، نو موځينې داسې پښتو قلمي آثار تر سترګو کيږي چې پښتو لنډۍ هم پکې خوندې شويدي دلته دا خبره هم د هير ولو نه ده چې دغه لنډۍ شايد په هغه شکل چې پخوانيو فولکلوريستانو او ختيځ پوهانو له اولس نه راټولې کړيدي، په هغه دول نه وي او په خپله شاعر يا ليکوال نه وريادې لنډۍ وي، چې به يې په خپل اثر کې خوندې کړې وي .

په پښتو پخوانيو آثارو کې د حسين (۱۰٦۸-۱۱۱۸ هق) او د محمد بياض ګدانه (۱۲۰۰ هق حدود) او سيد غلام ننګرهاري په ديوانونو کې موږ د پښتو لنډ-يو نمونې ليدلای شو. همدارنګه ځينې نور قلمي آثار هم شته، چې لږ و ډيرې لنډۍ پې ثبتې کړې دي، مګر اساسي کار چې لنډۍ له اولس نه راټولې

(۲) وګوري؟ همدغه مأخذ

شوې وې، په دې برخه کې له نولسمې پېړۍ را په دېخوا پېل کيږي، او موږ د ختيځ پوهانو په آثارو کې د پښتو لنډيو نمونې کتلای شو، جيمز دارمستتر (۱۸۴۹ــ ۱۸۹۴ع) په خپل مشهور اثر د پښتونخوا شعر هار و بهار کې د پښتو لنډيو (۸۸) نمونې خوندي کړې دي (۱) ځينو نورو ختيځپوهانو هم دا کار کړی دی او پښتو لنډۍ يې له ترجمو سره په خپلو ژبو خپرې کړيدي.

په مستشرقينو کې وروستی محقق پادري جنز انولـد سن د نمارکې دی چې د پښتـو لنډ يو سل نمونې يې له ترجمې سره په خپل اثر «سپوږميه کرنګ وهه راخيژه» کې را وړې دي. (۲). کله چې د ژر ه سواندو فولکلور- يستانو پام د شلمې پېړۍ له اوايلو نه د افغاني فولکلور را ټولو لو ته اوښتی دی، نو بيې د پښتو لنډيو ټولو لوته هم هڅه کړيده اودغه دول کارونه بيا هغه وخت ښه منسجم شويدي چې د پښتو ټولنې په څېرا کاډميو په پښتنې سيمو کې د پښتو ژبې او کلتور او ادب او فرهنګ د ژوندي کولوله پاره ليچې را نغښتې دي.

د محمد عمر په نامه يوه سړي (۱۳۱۱ه ش) په حدودکې د لنډيو او متلونو او نورو ادبي آثارو يوه مجموعه تهيه کړې، چې قلمي نسخه يې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په خطي کتابخانه کې ساتل کيږي.

(۳) همدارنګه مرحوم پاينده محمد زهير (۱۲۸۲ - ۱۳۳۶ه) دلنډيو يوه

۱- وګورئ د پښتونخوا د شعر ها رو بهار د جيمز دارمستتر ۲۰۹ - ۲۱۴ مخونه د ۱۳۵۶ کال د پښتو ټولنې چاپ.

۲- وګورئ! سپوږميه کرنګ وهه راخيژه ۵۴ - ۸۶ د پيښور چاپ.

۳- وګورئ! فرهنګ زبان وادبيات پښتو ج ۱ ص ۴۵۰

مجموعه د «غوړشکه د لنډیو» په نامه برابره کړې ده، چې تراوسه نه ده چاپ شوې او قلمي نسخه یې داطلاعاتو او کلتور دوزارت په خطي کتابخانه کې شته (٤) .

د لنډیو په چاپي مجموعو کې لومړنۍ مجموعه د مرحوم محمدګل نوري ده، چې ملي سندرې نومېـــــــــزي او پـــه هغـــې کـــې يـــې د پښتو درې زره لنډۍ خوندي کړيدي(٥)، دوهمه چاپي مجموعه د پښتنې سندرې په نامه د پښتو ټولنې له خوا برابره شوې چې په اوله برخه کې یې تراتوزرو زیاتې لنډۍ راغلې دي (٦) .

دريمه مجموعه داستادعبدالرؤف بینوا ده چې لنډۍ نومېزي اوراوړل شوې لنډۍ د انګريزي اوفارسي ژبو ترجمه هم لري(٧) همدارنګه په کوټه کې ښاغلي ګل محمد خان کاکړ د(ګل ټپې) په نامه په يوه درې ټوکیز کتاب کې د پښتو لنډيو په زرهاؤ نمونې ټولې کړيدي (٨) په پېښور کې د تاجرانو له خوا دپښتولنډيو ځينې مجموعې

۴- وګورۍ پښتو نسخې مسوده.

۵- دا کتاب په ۱۳۲۳ کال د پښتو ټولنې له خوا په ۱۷۶ مخونوکې چاپ شوی چې په وروستيو برخو کې يې د اتڼ ناري اوبابولالی هم راغلي دي.

٦- وګورۍ پښتنې سندرې لومړی ټوك ۱ -۳۳۰ مخونه د ۱۳۳۴کال د پښتو ټولنې چاپ.

۷- دا کتاب په ۱۳۳۷ کال د راديو افغانستان له خوا په (۱۹۶) مخونوکې په عسکرې مطبعه کې چاپ شوی دی.

۸- ددې کتاب لومړی ټوك (۲۹۲) مخونه په (۱۹۶۱کال) دوهم ټوك يې ۵۲۰ مخه دريم ټوك يې ۲۰۰ مخه يو په بل پسې په اسلاميه پريس کوټه کې چاپ شويدی.

چاپ شوي چې مشهور يې دادي :

۱- ټپې ددې مجموعې ټولوونکی سيداکبرصادی (۹)

۲- عقل تمام: ددې مجموعې ټولوونکی جمال دی (۱۰)

۳- مشهور ټپې: چې دسليم پبلشرز له خوا خپرې شوې دي (۱۱)

لکه څنګه چې لوړه اشاره وشوه ، چې اروپايانو دپښتو لنډيو ترجمې ورانديې کړې، دغه رنګه په اردوژبه هم دپښتو لنډيو ترجمې وړاندې شوې دي، چې په دغو ترجمو کې مشهوره ترجمه «سرود کهسار» نوميږي او ترهرې لنډۍ لاندې يې اردو ترجمه هم ورسره ليکلې ده (۱۲) .

په لنډيو تحقيقي ليکنې : په لنډيو باندې چې داروپايانو له ليکنو وروسته لومړی ليکنه د افغاني ليکوالو له خوا دکندهارد طلوع افغان د (۱۳۱۷) په کال (ګڼه) کې وينو (۱۳) هلته د پښتو دنورو شفاهي ادبياتو ترڅنګه په لنډيو هم بحث راغلی دی، بيا وروسته ځينې نورې ليکنې په دې برخه کې ډيرې دي ، چې مشهورې يې دلته راوړو :

ښاغلی فارغ بخاري په خپل قيمتي اثر « پښتو لوک ګيت» کې په

۹- په دی کتاب کی لنډۍ د موضوعاتو په اساس راټولې شوی ټول مخونه يې (۱۶۰) دی. دحقيقت ټپې ، مومن خان شيرينو، چمنی خان، ملتان، رام داد خان، پت، وطن، جانان غماز، بيلتون ، غم او نورو موضوعاتو په اساس پکې لنډۍ راغلې دی.

۱۰- پدی کتاب کی لنډۍ د رديف په اساس راغلی دی، ټول مخونه يې (۱۰۴) دی.

۱۱- په دی کتاب هم ټپې د موضوعاتو په اساس راوړل شوی ټول مخونه (۱۴۱) دی .

۱۲- دغه مجموعه د ښاغلی محمد يونس سيتهی له خوا راټوله او ترجمه شوی او په پيښور کی (۲۱۸) مخه چاپ شوی ده.

۱۳- وګوریء! طلوع افغان د۱۳۱۷ کال (کل ګڼه) دښاغلی جلالی مقاله.

لنډیو یوجامع فصل لري . چې په دې فصل کې دلنډیو په باب دتحلیل تر څنګه ډېرې لنډۍ په ار دو ترجمه شوې هم دي (١٤) .

ښاغلی شفیق وجدان په خپل اثر «ادبیات مردم» کې د پښتو تر پنځو سو زیاتی لنډۍ د موضوع په اساس سره واوړې - چې په پیل کې یې پدلنډیو یو لنډ تحلیل و رسره مل دی (١٥) .

همدارنګه ښاغلی حبیب الله رفیع په خپل کتاب «دخلکو سندرې» کې په لنډیو یو ښه بحث لري (١٦) . دفولکلوري ګیډۍ مؤلف هم ددې کتاب په پای کې څو لنډۍ له یوه معمولي تحلیل سره راوړې دي (١٧) خو هغه لیکنې چې په دې یو کال کې دښاغلی سلیمان لایق له خوا دزیري په مسلسلو ګڼو کې خپرېږي واقعاً دلنډیو په ژورو تحلیلونو کې یې اغیزې نه دي (١٨) . همدا دول پوهاند عبدالحی حبیبی په خپله یوه نوي لیکنه کې چې « په پښتو ادب کې د میرمنو برخه » نومیږي او په نوې کال کې به یې ښاغلی لوستونکی دزیري په کالنۍ کې واولي په پیل کې د لنډیو بحث لري ، او دغه لیکنه دلنډیو په باب له درنو لیکنو څخه ګڼل کیږي .

همدارنګه په «پښتو څېړنې» نومی کتاب کې دپوهاند دوکتور مجروح میرمن معصومه عصمتي او عبدالرسول امین له خوا په لنډیو دری تحقیقي لیکنې چاپ شوې دی (١٩) داوې دلنډیو دتولولو او تحقیق په باب څو خبرې چې ما و لیکلې ، هیله لرم چې لوستونکي ترې استفاده وکړي . اوس به نو زه خپلې راټولې کړې لنډۍ تاسې ته وړاندې کړم :

١۴- وګورئ پښتو لوک ګیت ٨٣-٢٠٣ مخونه ١٩٦١ کال دلاهور چاپ

١٥- وګورئ ! ادبیات مردم ١٣٦- ١۴٠ مخونه

١٦- وګورئ ! دخلکو سندرې ٩٨- ١١٦ مخونه د١٣٤٩ کال دتاریخ ټولنې خپرونه

١٧- وګورئ فلکلوري ګیډۍ ١٦٣- ١٦٩ مخونه

١٨- د١٣٥٥ کال دزیري ګڼې .

١٩- وګورئ ! پښتو څېړنې ، ١١٣- ١٧٦ مخونه پښتوټولنه ١٣٥٦

۱ـ آسمانه کښ وهوا ریږه
لیلی ببری کرلی دي چې پښه شینه

۲ـ اختر نژدې دی روژه لاړه
لیلی به بیا په لاسو سرې نکریزې ږدینه

۳ـ بدن دې باغ سترګی ګلونه
باغ ته دې ګورم تماشی د ګل کومه

٤ـ بنګړي می وو، په لاس می نه کړل
د میز اګل سره جوړ بزي تش لاسونه

٥ـ دا بیګانی وریجی پستی که
ممیز په ګله کسباتور وغرو ته ځونه

٦ـ په نو بخی سی می اور پسی کړ
چې په څولی (۱) کینډلی بیا دلو زې مرینه

۷ـ په جګو غرو کی دې بندي کړم
او س خومی پریږده غجره (۲) ګل شوی دینه

۸ـ په جګو غرو به سره خیږو
په زنګنو به ماتو وزیړي ګلونه

۹ـ په جګو غرو رانه پناه یی
او ریځ خونه یم چې په غرو درنګه شمه

---

۱ ـ سکنه ۲ بوټی، چې سپرلی کی ګل کوی .

۱۰ـ تـر داغنـج غنج پښې دې جار شـم

به‌نیمو شپو یې غنجوې بې خو به‌شو مـه

۱۱ـ په‌دې زړي ورخوري (۳) گـنـد کـسی

چې درې گر ب شي زړه بیخه (٤) ناسته‌وینه

۱۲ـ په‌سپینو دارو در تـه‌خـانـد م

دننه زړه‌مې د بدی کړي مصلحتو نه

۱۳ـ په‌سره سالـو مـخ نـه پټېږي

پـه‌مـین قـدر زیـاتـوم مـخ پټو مـه

۱٤ـ په‌شمل پـورې واده مـه‌شـی

په‌شمل پـورې یتیمانـی و د و یـنه

۱۵ـ پـه‌عـاشقـانـو ز یـرې و کـئ

وصال پاچاشو بیلتون قیددعمرو شو نه

۱٦ ـ په مغلـگی کی و ینی پـنـدې

نـه‌بی مرغان خوري نه یـی څمکه وچوینه

۱۷ـ په کټ کی دوې گوتی ځای راکړه

لـکـه‌لرم پـه‌دیـوالـه را غـلی یـمه

۱۸ـ په‌کمر بند به‌دې څوندې شم

که‌په‌کار تو سو مې سا تلی شی مینه

---

۳ ناروغی   ٤ بوخه

۱۹- چې پهکړکۍ مې سرجوت کړو

پلار مې ورپ روپۍ گڼي ماور کوينه

۲۰- په کلي پو ليونی نشته

شينکی پرتوگ مې پهورنوخو لهلگوينه

۲۱- په لارهځي درپسې گورم

جگه ځواني دې مزه ماته راکوينه

۲۲- پهمخه دوې شين ختي راغلې

هکۍ پکی شوم چې دکومې ياري کړمه

۲۳- ترلې مې واړه تر برو، و کړې

زهيې ځيني(۱) کړم پهوطن يې گده کړمه

۲۴- تنې سرې به ميړه نه کم

چرگی يې زدنخوړلې نهمابهشړينه

۲۵- تهدا خبر په صبا راشه

زهبهدروځم توري سترگې سرهلاسونه

۲۶- جانانه لاړشه سودا راوړه

ماته نکريزې سلطانۍ راوړه مينه

۲۷- جانانه لاړې مسافر شوې

کښت دلونگو بهمې څوك ريبي مينه

---

(۱) ځيني: ورکه

۲۸ ـ جانانه هغه وخت در یا د کړه
چې لارې نه وې ګړنګو کې ګرځیدو نه
۲۹ـ جانانـه خدای ته ګـو رەمەڅه
داسپینه خوله بەهر ەشپەشپەدر کو مه
۳۰ ـ جانانـه و لـې مسا فـرشـو ې
داستاله لاسه پەاورو سوم مړەبەشمه
۳۱ـ ـچې پەلستو نی کې خو له غوارې
لستو نی تنـګ‌دی، ګل میخې نارې و هینه
۳۲ ـ ته دګور ګو رو پەوخت‌راشه
ګو ر ګورې‌تو رې خو'ەبه سپینەدر کو مه
۳۳ـ چې سپـینه یـې مز دې ،شته
لـکه دځلې‌خو اته واورې‌تو یې و ینه
۳٤ـ چې کټ ته خیزې بسم الله که
دلیلا کټ دجنغو زی دی مات به شینه
۳٥ـ د ا لو نـګین به دې تالاشی
وړو کې مه کړه دباز ار پەو ړ کیومینه
۳٦ـ ځو انانو ځان ته کفن جوړ کړل
ما پە داسپینه خولـګۍ دیر وژلی دینه
۳۷ـ خت مې لندی ونیسه مورې
ابـکـ مې نو ی کیت وهی خرې به کمه

۳۸- چې خت مې وکړ لیکي لیکي

په هره لیکه کې یې اوردې ویې سومه

۳۹- خدای دې په داسې ځای کې راکه

چې دتېرر وپې دې ګډې ودې کرمه

٤۰- خدایه داپلار مې دوزخي کړې

په ټول جهان کې یې سپین زیرې ته ور کړمه

٤۱- خوله دې رانکړه رانه لاړې

خدای دې پهسروجامو کې کو نډه که مینه

٤۲- داخترورځې رانږدې شوې

جانانه راوره شنې نکریزې په پنډ ونه

٤۳- د جلې و نه د باد ام د ه

چې نرې بادشې سریې ځمکې ته راځینه

٤٤- د د نیا عمر نیمه خوا د ی

څوک چې دناز خنداکوې نادان به وینه

٤٥- د ستر ګو تو ل نظر په ما کړ ه

لکه و یشتلې ز ر که ګو ښې نا سته یمه

٤٦- د مسا فر و کډ ې بـا رشو ې

ور ته په لوړشه چې کوم ځای یې اړوینه

٤۷- د ا د و ل په سازو هم نا سازې

چې یو دې نسې بخملې ګو تو بنډ و نه

٤٨- زما دی سوی زړه ته گوره
فکردې خپل دی بیابه وکی ارمانونه

٤٩- زماپه سترگوکی دې کوردی
چی چیرته گورم هلته تاوینم مینه

٥٠- زړگیه چا له لاسه ژاړې
راځه چی دواړه ننواتی ورته ځونه

٥١- زړگی زماله لاسه تللی
چیرته چی یاروی دابه هم ورسره وینه

٥٢- زه چی د یار غیږې ته لاړم
سپینی سپوږمی راپسی لیښ ولگونه

٥٣- زه د آشنا په جمع راغلم
چلم یی دك ژبی په ښکارولی دینه

٥٤- زړه خو می داسی راته وایی
په سترگوپټ کړه لرې لړې و طنونه

٥٥- زړه خو می ستړې کیږي
یامی مرگی دی یا ورکیږم له وطنه

٥٦- زما په برخه دې لندون (١) کړ
زه چی لندون هوښیاروم زړه به شمه

٥٧- زما په برخه دی گیډړ کړ
گیډړ خو چرگی تښتوي ما شرمو ینه

١» لندون: بی عقل دووس

۵۸ - زما ترلی تربورونه ډیر دي

که زه سرتورې پېکی څم پته به شمه

۵۹ - ستا له یاری نـه می توبـه ده

که دشید و په سر پیروی شي مینه

۶۰- سپوږمیه جهان خوښی دې وکړې

سپینی سینی درته پرتی په پالنگو نه

۶۱- سترگی د باغ بابیه دې غنې

عاشقانغنی مـا توې باغ شکوینه

۶۲- سترگی دې زره ته رانږدې که

چی پېکی ووینی دسرووینوډنډونه

۶۳- سر می نري گنډه که موړ ي

پورې کړکی ته می ترلی راغلی دینه

۶۴- سر ته دې غټه تیزه کیږده

پردی وطن دی یاره نشته بالښتونه

۶۵ـ سلام می په هغی جلی وایه

چی سریی رنگ وي دیواله ته ناسته وینه

۶۶ـ سلام می یار ته نه رسـیږي

په مخ څـوکـی دبیلتانـه ولاړې دینـه

۶۷ ـ شپه کی دیارپه کلي راغلم

په خـوب ویده آشنابه څوك راوینـوینـه

۶۸ ـ عاشق بی شکه جنتی دی

چی تمامی عمر په صبر تیروینه

۶۹ ـ اې کلیه ننګ را باندې وکړئ

دلاس بنګړي مې ماتوي ماور کوینه

۷۰ ـ لا کوږ کی چرګی ناستې نه دي

زما ورمینځه یاره خوب دې زنګوینه

۷۱ ـ که تندی ووهی که ژاړې

په خرکی دره به دې نه درنو زمه

۷۲ ـ که څوک ببرې لښتی غواړې

زما دلیلا سترګی ببرې لښتی دینه

۷۳ ـ که یو اړې مرګ وای بیاژ وندون وای

ژ بیو به جګی وای تبې په زنګنونه

۷۴ ـ لیچی می د کی دبنګړیو

د میزاګل په سر به یو یو ماتومه

۷۵ ـ لیلا په لګد کی جامی مینځی

سپینکی وښی یی لکه وری الدراچی کرینه

۷۶ ـ لیلا په باغ کی سره مڼه ده

دووس موزې یی په پښو شوندو خورینه

۷۷ ـ دې دلدنه کوز شه خرې راکه

زه دجانان په شان خیره کی جورومه

۷۸ ـ راځه چې دواړه ملنګان شو

په زیارتو به سبوروو ګـــګرســرونـه

۷۹ ـ روپۍ دې تولې شي روپۍ دې

دمنځ روپۍ دې زه په زړه ویشتلی یمه

۸۰ ـ ماخواغزي کرلی نه دي

آشنا زما په لوري نه ږدي قــدمونــه

۸۱ ـ مادجانان غیږ کې حلال کړې

چې ګلابي صورت یې تول په وینو شینه

۸۲ ـ ماد جلې دغېږمنــګې کــړې

چې په سینه مې خوزوي سرته مې ورینه

۸۳ ـ زمادڅارګل څلورپرې دي

څلوربه نورې کړم چې غبرګې لمبې کړینه

۸٤ ـ مــخ دې دخـــدای په نــوررودك دی

زه دثواب لپاره خوله پــرې لــګومــه

۸۵ ـ مــرګـــیه دومـــره معطـلې کـــه

جوار به بمبلك دي ببري توري غوتې دینه

۸٦ ـ میزاګـــې بیا په دربی راغــلو

په لمن ګې کې چا توتان ورکري دینــه

۸۷ ــ مسافــرخــی کلــه دریــږي

لوښی کــودي یی بیــگانی تــرلــی دینــه

۸۸ ــ مسافــرمه وژنــه مــرگـــیه

وچه مړی خوري سرپه تــیزه لــگــوینــه

۸۹ ــ مین می کړي خوله می درنه کړه

داسی می وچ کړي لکه دروځی په بندونه

۹۰ ــ مینه کــه هرڅو پټــه ســاتــم

دا زیــړی رنگ مــی رسوا یی تــه رسوینــه

۹۱ ــ وراره راځــه بــیره راو کــه

زه دشلــیدلــی پاڼ پــه ســرولاړه یمه

۹۲ ــ وروره راځه بــیره راو کـــه

ختتی می کــړي ددیــدن کــړکی تپــمه

۹۳ــوروړمی پــه جمــع کی معلوم دی

توریی پټکی سره یی گلان تــو مبای دینــه

۹۴ ــ وروړمی په جمع کــی گــډیږي

ددسمالــو پیڅــی می یــارنیــولــی دینــه

۹۵ ــ وړوکی ما په یاري پوه کــړي

اوس دي په توروزلفو نوروهی لاســونــه

٩٤ ــ وښې په لاس گوتې پـه گوته

زرگره توله دې يارى ته جوړه کـړمـه

٩٥ ــ ولې زمانـه مـروريـې

راځه چې خط دغلامى‌درکړم مينه

٩٦ ـ نه به انځردورځې گل شى

نه به زمازړکى له غمه خالـى‌شينه

٩٧ ـ چې نه داريږم نـه شرميږم

خودزمري پـه‌شان‌دم‌دم درته‌کومه

٩٨ ـ يارمى پـه‌شنوخالومين دى

ورينداري‌ووهـه‌يوکم شپيته‌خالونه

دماشوما نو سندرې

دپښتو دګړنی ادب لمن خورا پراخه ده ، کــه چیرې یو پلټو نکی دپښتنو په ټولو سیمو وګرځی نو په لس ګو نو ډوله سندرې به په کليو او بانډو کی ومومی. دغه ډول سندرې زموږ دشفاهی ادب ډیره خوندوره برخه جوړوی اوزموږ دخلکو کره وړه، اجتماعی روابط اوملی تاریخ ترې ډیر ښه څرګندیږی . زه چی دخو کالو را په دې خوا ددغه ډول کلتوری شتمنیو په ټولولو بوخت یم ، او په دې لړ کی می پکتیا دخوست سیمی دغه ډول سندرې ډیرې را ټولی کــړې دی ، پـه دغو سندرو کی مادماشوما نو سندری هم راټو لی کـړې دی، چی تر یو ې لنډی څیړ نی وروسته یی وړاندی کـوم :

دغه سندرې خاص دماشومانو له خوا په بیلابیلو وختو نو کی ویلی کیږی کله چی بو ماشوم په نجبرو رانځی او دځمکی پر مخ آزاد قدم وهی او دکیډو په کوڅو کی دنو رو ماشو مانو سره په لو بو اخته کیږی ، نـو په دغه وخت کی دغه سندرې چی له ډیرې پخوا په دوې کی شته اودما شومانو ترمنځ خورې دی نورماشومان هم پسی زده کوی اوسینه په سینه له یوه نسل څخه بل نسل ته پــه شفاهی ډول انتقال مومی . هــر

څومره چې یوماشوم کوچنی وی په هماغه اندازه په لزوسندرو باندی پوهیږي مگرڅومره چې یې سن لوړیږی اود کور کلي له نوروماشومانو سره یې تګ رانګ مینه او لوبوکی ګډون زیاتیږی هماغومره ددغه ډول سندروسره زیات اشنا کیږی اوداسندې زده کوی .

ترکومه ځایه چې ماته څرګنده ده، د افغانی فولکلوردنوروبر- خودرا ټولو لوترڅنګه دماشومانو سندری هم تریوې اندازې پورې دافغانی فولکلوریستانوله خوا راټولې شوې دی .

دماشومانو دسندرویوه وړه مجموعه د پروفیسرسیال کاکړ له خوا ترتیب او چاپ شویده (۱) او ددغه ډول سندروځینی نمونی یې یکی خوندی کړیدی . ښاغلي حبیب الله رفیع هم دخلکوسندری نومی کتاب کی سربیره پرنوروسندرو د ماشومانو سندری هم راوړې دي (۲) همدارنګه ښاغلی محمدنوازخان طایرپه ۱۹۷۳ع کال کی د پیښور دپښتوا کادمی دپښتومجلی په ځینوګڼوکی (۳) دماشومانو دسندروځینی نمونی خوندی کړی دی ،اوهم د کوټی داولس مجلی په ځینوخاصو ګڼوکی (دافغانی فولکلور په برخوکی) دفولکلور دنوروژانګو دخیرلو په څنګ کی دماشومانودسندروځینی نمونی هم خوندي شویدی. اوهمدا ډول ځینی نوری وړی اولوبی مقالی هم دپښتو په

---

(۱) وګوریء! پښتني فولکلور ۲۸، ۴۸، ۶۳ مخونه د۱۹۷۱ع کال دکوټی چاپ

(۲) دخلکو سندرې ۵۳، ۵۹ مخونه د(۱۳۴۹ کال) چاپ .

(۳) وګوریء دهمدغه کال دمارچ نه تراګست پورې دپښتو مجلی ګڼی .

خپرونو کې چاپ شویدی . محمدولی ځلمی په خپل کندهارنـومی کتاب کې د کندهار په سیمو کې د کوچنیانو تر منځ د خوروور وسندرو ځینې محدودې نمونې خوندي کړیدي (٤). دلته زه دماشومانو د سندرو ځینې هغه نمونې را وړم چې ما په خوست کې راټولې کړیدي او تر اوسه نه دي چاپ شوي.

هغه وخت چې آسمان نه بېخي اوريځ نه بيخي شين وي او ولږ باران اوريږي، اوماشومان په دې عقيده وي چې آسمان نور شين کيږي او باران هم دريږي، نو دوی دغه باران ته د ګيدړې واده وايي، ځينې خلك دغه باران ته دشنه آسمان باران هم وايي. په دا وخت کې د کلي ماشومان سره ټوليږي کله چې باران پيل شي نو دوی ټول يوځای سره په ناروشي او په خپلو منځو کې سره ټنبتې، منډې رامنډې وهي اودالاندې سندره هريو کوچنی په خاص مهارت په ډير جګ آواز سره وايي :

ګيدړه ودوی
په خرکې يسی سپروی
چې زما برخه ونه کړې
خدای دې ژروشرموی

هغه وخت چې باران دغرونو په برخه کې په اوريدو پيل وکړی او په نورو برخو کې هم اوريځ دومره سخته شي چې نور باران په

(۴) وګوریء ! کندهار ۲۷۰ـ ۲۷۱ مخونه د ۱۳۵۱ هش کال د کابل چاپ

اوریدو پیل کوي ، نودلته بیاماشومان سره تولیږي. کله‌چي باران په دغوسیمو کې په اوریدوشروع وکړی،دوی هم سمدلاسه ناری‌وهی اودکوروڼوپرخواووباندې ځی، اوداسندره هر یوماشوم په لوړ آوازوایي:

بارانه مه اوریږه

په‌جګوغرواوریږه

زه به کلداره روپی درکړم

حکسم جانی ته پښی راوړه

ګل پیالی پیالی راوړه

کوم وخت چی ماشومان دورځی لوبی کوی . بالخصوص دمازیګرله وخت څخه ترماښامه پوری ددوی دلوبو دیرښه وخت وی، نو کله چی وربا ندې ماښام شی اونوروخپلو کورته ځی دلوبی درنګیـلو سره جوخت داسندره تول په‌داسی حالت کی په جګ آوازوایی چی په منډوسره دکوروڼوپرخواروان وی :

ځئ چی ځوکورو ته

مرغی لاړی غارو ته

هغه وخت چی ماشومان لوبی‌کوی او دلوبو کولوپه وخت‌کی دوه تنه دلوبی په موضوع اویاکومه بله خبره سره په جنګ شی اونه سره بیلیږی نورماشومان یی سیل کوي داسندره ورته‌وایی :

جنګه جنګه تو د شه
تا ته به نیني و کړم
زه به دی ننداري و کړم

کله چې اختر را نژدې شي او د نکریزو شپه را او رسیږي ، نو هر ماشوم په خپل کور کې لاسو نه په نکریزو سره کوي . کله چې نکریزي په خپلو لاسو و تپي ، نو د باندې ټول ماشومان راووځي ان د دې له پاره په منډو رامنډو پیل کوې چې نکریزې وچې شي ، او د خپلو منډو رامنډو په وخت کې دا سندره هم په جګ آواز په خاص طرز سره وايي :

لاسه لاسه سور شه
سبا ته د زیړې غوا په کوچو کې نسکور شه(۱)

کوم وخت چې داوړې د غنمو د رمندو نه خلاص شي ، او ټول خلک خپل غنم کور ته یوسي ، نو هلته د کلي ماشومان په داسې حال کې چې دا کشرو سره د لر ګیو سوټې هم وي او دیوه تن سره یې یو اوږد لرګی وي او په سر باندې یې یو سور دسمال یا رخت هم تړلی وي ، را ټولیږي او د (امین کږ) په نوم د هر کور دروازې ته دریږي او دا سندره په خاص مهارت سره ټول په یوه آواز وايي :

امین کږ امین کږ :
هله بابه چې تراټې ته لاس کې

---

(۱) دخوست په سیمه کې داسې رواج دی چې داختر په ورځو کې په میو کې غتې وریجې پخوي او دغوا غوړی او کوچ ورته ویلې کوي او دوریجو په منځ کې یې اچوي دلته هدف دغوړ یوخوړل دی.

PROPERTY ACKU

ما به خلاص کی بابی
امین کئ امین کئ.

کوم وخت چې داماماتو په میاشت کی هغه شپه راشی، چی دوی پکی وژل شوی‌دی . دپکتیا دخوست په سیمه کی دې‌شپی ته (ښه شپه) وایی ټول ماشومان سره ټولیږی او یوه ښځه د(حسن، حسین) دوژلو نقل ورته کوي، او وروسته له هغه دالاندې‌سندره په ډیر خوازه او غمګین طرز سره هغه ښځه ورته وایی، بیا بی ماشومان ورپسی تکراروی :

ښی‌شپی ښی‌شپی - تابه څوك ر نا کوی

حسن‌حسین ژنی می مړه دي - جای‌خوب زنګوی

جلی‌خوب زنګوی

هغه وخت‌چی زانی ښکته او یا پورته ځی اوماشومان یی آوازاوری نودکلی ماشومان ټول سره ټولیږی . که چیرې ماشومان وغواړی چی زانی درسی په شان اوزدې شی نوداسندره هریو ماشوم په لوړ آوازپه خاص طرز سره وایی :

زانی زانی پړی وغاړئ

زانی زانی پړی وغاړئ

او که چیرې وغواړي چی ګدې ودې‌خپل تګ‌و کړی بیانو داسی وایی چی:

زانی زانی ګـدې ودې شئ . زانی، زانی ګـدې ودې شئ

ځینی وختونه داسی‌هم کیږي چی دوه ماشومان او یاتر هغی زیات په متیازو (جواب چای) باندې په اږه فاصله کی سره کښینی، نو یو بل

ته نه گوری، که کوم یوه بل ته و کتل نومقابل ماشوم داسی سندره ور ته وایی :

مه کسه مامه کسه (۱)
بابا کسه
پلار په جنازه کسه

کوم وخت چی باران دریدلی وی، دهغه نه وروسته بیاشنه زرغونه پیدا شی اوآسمان کله تول اوربځ او کله کله تپی تپی وی، یعنی که لمر ښکاره او کله په اوربځ کی پټ شی، نوماشومان راووزی اوداسندره هریوماشوم وایی :

شین بی کې زرغون بی کی
دشنه غوایی لرمون یی کی
داوسپنی تلبریی کی
دیکک سري په سریی کی
زموز جونه په هنډې کی
دنورو جونه کونډې کی

که چیرې ماشومان همیشه گډلی (جواری) خوري اویوه ورځ ښه دوډۍ ورته ورسیږي، بیانو داسندره وایی:

گډلی گډل بیلک
نغن نغن بیگک

۱» کسه : گوره

روته سم سمی ده

غوښو و ریجو ښه‌مړی‌ده

همدارنګه که‌چیرې ماشومان ګډلی خوري اویادکور لو یان خپلو ماشومانو ته‌ګډلی ورکوي، نودوی بیاي‌داسندره‌ورته کوي:

ګډلی

پلاردې‌ورته غای

کوم‌وخت چې ماشومان دژمی په ورځوکې لمرته‌ناست وي اوآسمان کله اوریځ و کله‌ځای ځای‌شین لمرشي، نوکله چې آسمان اوریځ کیږی‌نوماشومان داسندره وایی:

ستر ګی ستر ګی‌دبلی و وهه

لوبه زامن‌دې ساړه ست کړل

ساندې

داهغه نارې دي چې د ښځو له خوا په مرې باندې ویلی کیږي. دا سندرې عموماً دیوې ښځې او یا د یو ښځو له خوا په وار سره په داسې حال کې چې هره یوه د سندرې په آخر کې د هې، هی یاوئ وئ او یا ائ ائ د تکو په زیاتو لو سره ځینې منظومې وایې او په دې توګه د نورو ښځو ژړا لا پسې زیاتوي. د دغو غړانګو په اوریدو سره بې زړونه له غریوه د کیږي او په ژړا اپیل کوي. دا ساندې په یوه خاص طرز په لوړ آواز سره ویلی کیږي، د ساندو په باب کوم داسې اثر نشته چې په خاص ډول دې ساندې پکې چاپ شوې وي، یوازې د خلکو سندرې نومې کتاب کې د ساندو یو فصل شته او ټولې یې پنځلس ساندې پکې راوړې دي. (۱)

همدارنګه د فولکلوري ګیډۍ په کتاب کې هم د منګلو د سیمې غړانګې (ساندې) راوړل شوي دي (۲) .

ښایي په نورو مقالو کې بې هم په ضمنې توګه څه یادونه راغلي وي او یا یې د فولکلوري سندرو د معرفي په سلسله کې کومه نمونه خوندي

۱- وګوری د خلکو سندری ۱۷۸-۱۸۲. مخونه

۲- وګورې افولکلوری ګیډۍ ۱۸۲ - ۱۸۳ مخونه ۱۳۵۵ کال چاپ

شوي وي. دلته زه‌هغه‌ساندې راوړم چې مادخوست په‌سیمه‌کې راټولې کړیدي اوتراوسه لاچاپ‌نه‌دي:

جدایی‌شوه لارې‌دوې‌شوې .
مرګیته‌کې‌حق دی‌جدایې‌مې‌ژړوینه‌هی ، هی

* * *

جدایی‌شوه‌لارې‌دوی‌شوې .
دجدائی‌په لیارکې‌ګوښې‌ناسته‌یمه هی،هی

* * *

دګورستان سیورې‌کږې شوې
وړکی‌پراته‌دی‌تورې‌خښې‌غورمتو نه‌هی، هی

* * *

دګورستان خونړی‌لاروه
زه‌دابلك دیدن ته تلم‌بیابه راتلمه هی،هی

* * *

ماماپه‌لوړه غونډی‌کښېږدئ .
مخ‌یې‌خرګند کړئ‌چې‌نری بادیې‌وهینه هی،هی

* * *

بابك په‌لوړه غونډی‌ښخ‌کړئ
چې‌اولادونه یې‌همیش‌زیارت ته ځینه هی،هی

* * *

بابلك پەلو رەغوندى كښېږ دئ

چې اولادونەيي ديدن تەورتە ځينه هى، هى

* * *

پەسترسهار نرى آوازشو

پلانى تە سپينى جامې كړي خاورو تە ځينه هى، هى

* * *

دگورستان ترغاړه يى كښېږ دئ

شونډى يى شكل كړئ بيا بە بى تورى خاورى خورينه هى، هى

* * *

پلانى خښنى زرى نه كړى

خښنى بە نە گورم دنجونو پە مټونه هى، هى

* * *

دساندو دغه برخه دلنډيو سره ورتەشكل لرى، مگر پەاخر كى دهى هى وئ وئ ياائ ائ غږ انگەور سره زياتيږي چي فورم يي دلنډيو له كالب نەوباسى .

ساندى پەخوست كى پەيو مسره ييزه او دوه مسره ييزه شكل ويلى كيږي:

دښځواتڼ اوداتڼ سندرې

دخلکو دهنر دمختلفو څانګو څخه یو هڅانګه اتڼ او نڅاده . د خلکو دهنر دغه پرکیڼه او مسته څانګه آن له اسلام نه په دمخه پیر یو کې په آریایي قومونو کې موجوده و، ځینې آریایي قومونو دخلقي هنر دغه خوزوونکې اومسوونکې خواله لاسه ورکړې خو په پښتنوکې اتڼ دخپل ټول کم و کیف سره موجوددی(۱) .

په پښتنې سیمو کې اتڼونه او نڅاوې دښځواو نارینه وو له خوا ترسره کیږي، ښځې ځانته بیل او نارینه بیل اتڼ لري ، دنرینه او ښځینه اتڼ په شکل او خصوصیاتو اوحرکاتو کې ښکاره توپیر و نه لیدل کیږي .

پښتنې ښځینه او نرینه اتڼ مختلف ډولونه لري چې زه د خپل کار د اصولو او شرایطو له مخې دهغو له راوړو تیریږم اویوازې دهغو لیکنواو آثارو یادونه کوم چې داتڼ په باب څه موادلري :

۱ـ دخلکو سندرې: دخلکو سندرې مولف ښاغلی حبیب الله «رفیع» چې کوم بحث داتڼ پــه ناروکړی،هلته یې داتڼ په باب هم څوټکې څرګند کړي دي . (۲)

---

(۱) وګورئ محلی نڅاوی دحیرندوی روهی سریزه

(۲) وګورئ دخلکوسندرې ۷۰-۷۵ مخونه .

۲ ـ پښتني ملي اتڼونه او محلي نڅاوې : په دغه اثر کې د پښتني سيمو د څينو برخو اتڼونه په اماتوري ډول بيان شويدي (۳) .

۳ـ فولکلوري سوغات : په دې کتاب کې داتڼ نارو درا او ړوتر څنگه د اتڼ ځيني شکلونه هم ښوول شوي دي (٤)

ښايي په ځينو نورو ليکنو کې هم د پښتني اتڼ په باب خبرې وې چې زه يې له راوړو تير بزم . اتڼ په پښتني سيمو کې د خپلو مخصوصو حرکاتو ترڅنگه ځيني سندرې او سرو کې هم لري چې د اتڼ په خاصو مراحلو کې ويلې کيږي . دغه سرو کې په پښتني اصطلاح نارې بولي ما په دې ليکنه کې د خوست د سيمې يوازې د ښځو اتڼ او د هغه شکلونه څوندي کړي نارې او سندرې مې يې هم راوړې دي .

ښځې د خوشحاليو په ورځو کې بالخصوص د اختر ، ميلې ، واده او نورو ښاديو کې خاص او ډول ډول اتڼونه او سندرې کوي ، مگر د واده دور څو اتڼ يې په اووه ډوله دي چې لاندې راوړل کيږي :

۱ـ دولاړې اتڼ : کوم وخت چې ښځې د ناوې کورته ورځي نو په دې وخت کې دولاړې اتڼ کوي چې په دې ډول دي : ټولې ښځې ولاړې وي يوه اويا دوې ښځې ورته گډيږي نورې ښځې تا که ورته وهي هم دغه يوه يا دوې ښځې د گډيدو سره يو ځاى سندرې هم ورته

۳ ـ دغه رساله په ۱۳۵۲ش کال د ادب او فلکلور د ټولنې له خوا په ۲۸ مخونو کې چاپ شوې ده .

٤ ـ وگورىء فلکوري سوغات د پروفيسر سيال کاکړ ۲۳ ـ ۳٤ مخونه د ۱۹۷۸ ع کال د کوټي چاپ .

وايي، او داسندري په خاص طرز سره ویل کیږي. یوه ښځه دول یادریا ورته وهي داتڼ نه وروسته بیاناوې جگوي او د میره کور ته یې راولي هغه سندره چې دولاړې اتڼ په وخت کې یې وايي داده :

دا ځای دگلو یدن دی
قدم زه اخیستی نه شم
۱ - تورو توپکو جوړونکیه
قدم زه اخیستی نه شم
که یارمی مړشو خون به یې ستا په غاړه وینه
قدم زه اخیستی نه شم
دا ځای دگلو یدن دی
قدم زه اخیستی نه شم

* * *

۲ - یه خدایه کوم یوپکی خوښ کړم
قدم زه اخیستی نه شم
مرگی بیلتون راته جوړه راغلی دینه
قدم زه اخیستی نه شم
دا ځای دگلو یدن دی
قدم زه اخیستی نه شم

* * *

۳ - ځمنی دې بیا شنلی راوړې
قدم زه اخیستی نه شم

وور کیه مېن یی که مرگی شنلی دینه
قدم زه اخیستلی نه شم
داځای دګډیدن دی
قدم زه اخیستلی نه شم

۲- د روانیدو اتڼ

کوم وخت چی ښځی دناوې کورته ورځی او هغه لاره چی دناوې دکوراو دمیره دکورتر مینځ موجوده وي. په دې ټوله لارکی اتڼ کوي. په دې اتڼ کی ټولی ښځی وروو رورو انیوي، یوه یادوې ښځی په لاره کی ورته ګډیږي، یوه ښځه ډول یادریا ورته وهی، دهغی یوې یادوو ښځو له جملی ځخه چی دنورو ښځو په مخ کسی ګډیږي. یوه ښځه سندره هم ورته وایی. نورې ښځی تاکی ورته وهی، ترهغی چی د ناوې کورته وررسیږی، هغه سندره چی په دی اتڼ کی ویله کیږی په خاص طرزلوړآواز او نرمه غاړه وي. داسندره په دی ډول ده:

په ورو ورو قدم
په هر قدم زیړي ګلونه

* * *

۱ ـ مین می کړی ځوله می درنه کړه
په هر قدم زیړي ګلونه
داسی می وچ کړ ی لکه دروځه په بندونه
په هر قدم زیړی ګلونه

په ورو ورو قدم
په هر قدم زيږی ګلونه
* * *
۲ ـ ترډا بوری توپك دې جارشم
په هر قدم زيږي ګلونه
ترلی تادی نیغه زه درپسی ځمه
په هر قدم زيږی ګلونه
په ورو ورو قدم
په هر قدم زيږی ګلونه
* * *
۳ ـ په جګوغروکی می‌مرګی کی
پـه هر قدم زيږی ګلونه
چی جنازه‌می دښښترخانګی وهینه
په هر قدم زيږی ګلونه
په ورو ورو قدم
په هرقدم زيږي ګلونه

۳ ـ دناوی په کورکی دولاړی اتڼ : کوم وخت‌چی تولی ښځې دناوې کورته ورسیدې، نودناوې دکورپه انګړکی‌تولی ښځی دیوې ګردې دایرې په‌دول دریږی اویوه په بله خپل ښی لاس په اوږو ورسره ږدي ،یوه ښځه چی د اتڼ په مخکې ولاړه ده سندره

اخلی . نوري ښځې يې ورپسې نيسي ، يوه ښځه ددغې داير ې په منځ کې ولاړه وي دول يادر باورته وهــي ، هغه ښځې چې په اتڼ کې ولاړې وي ، شمير يې کله کله تر پنځو سو ښځو پورې رسيږي ، هغه سندره چې په دې دول اتڼ کې ويله کيږي داده :

لومړۍ سندره : پيزوانه ته چې په سر وشو ندوز نگيدي ــ بې خوبه ومه

۱ ـ پيزوان يې جګ کړه خوله يې واخله

پيزوانه ته چې په سر وشو ندوز نگيدی ــ بې خوبه ومه

گونـدې داځـای دی ميز اگل ته پا ـی شينه

پيزوانه ته چې په سر وشو ندوځنگيدې ــ بې خو به ومه

پيزوانه ته چې په سر وشو ندوز نگيدې ــ به خوبه ومه

* * *

۲ ـ نتکی پيزوان سر ه بديږی

پيزوانه ته چې په سر وشوندوزنگيدې ــ بې خوبه ومه

پيزوان په گرمدی په سپينه خوله وهی تاوونه

پيزوانه ته چې په سر وشو ندوز نگيدې ــ بې خو به ومه

پيزوانه ته چې په سر وشو ندوز نگيدې ــ بې خو به ومه

* * *

۳ ـ دمخی لرې شئ عالمه

پيزوانه ته چې په سر وشو ندوز نگيدی ــ بې خو به ومه

مادچار گل په پرودپروژلی دینه
پیزوانه،ته‌چی په‌سروشوندوزنگیدې-بی‌خوبه‌ومه
پیزوانه ته چی په سرشوندوزنگیدې- بی‌خو به ومه
دوهمه سندره :- دا سورسولی د یوې ونی

نری شمال د پیغلی د لمنی

* * *

۱ - جلکی دباغ د لوری راغله
نری شمال د پیغلی دلمنی
په‌سپینه‌خوله‌یی‌شو تالان‌خوړلی‌دینه
نری شمال د پیغلی د لمنی
دا سورسولی د یوې ونی
نری شمال د پیغلی دلمنی

* * *

۲ - وئ د کوندې زویه‌مو تینگیه
نری شمال د پیغلی د لمنی
په سم بازار کی‌دې په سپی نسکوره کړمه
نری شمال د پیغلی د لمنی
دا سور سولی د یوې ونی
نری شمال د پیغلی د لمنی

* * *

۳ ـ خاونده دابه دې رضاوي
نرۍ شمال د پیغلې دلمنې
چې دځوانۍ عمر پهغم کې تیر ومه
نرۍ شمال د پیغلې د لمنې
دا سورسولې د یوې ونې
نرۍ شمال د پیغلې د لمنې

* * *

۴ ـ د ناستې اتڼ :

کله چې ټولې ښځې د ولاړې اتڼ دناوې په کور کې وکړي او ستړې‌شي‌نووروسته له هغه بیاد ناستې اتڼ کوي . په دې ډول اتڼ کې ټولې ښځې ناستې وی ، یوه ښځه په ناستې باندې‌ډول ورته وهی ، اوبوارې یوه ښځه ولاړه وی او اتڼ ورته‌کوی . داتڼ سره سم‌نورې‌ښځې سندرې‌ورته وایی، او همدغه یوه‌ښځه چې په ولاړې اتڼ‌کوی . ټکې هم وراچوي ، دا سندره په دې ډول ده :

لومړۍ سندره : لاهورته ځمه لرې وطن دی، بیانه راځمه وندیارۍ (۱) واچوه بخمل په زنګنونه .

* * *

۱ ـ خلک دې وایی تهمتونه

لاهورته ځمه لرې وطن دې‌بیا نه راځمه

۱» وند یارې = وریندارې .

زه دتهمت ځنځیر په غاړه ګرځومه

لاهورته ځمه لرې وطن دې بیانه راځمه

لاهورته ځمه لرې وطن دې بیانه راځمه

وند یارې واچوه بخمل په زنګونه

* * *

۲ ــ بندیخانی کړکۍ ته راشه

لاهورته ځمه لرې وطن دی بیانه راځمه

غوږ راته نیسه ما پانسی ته جګوینه

لاهورته ځمه لرې وطن دی بیانه راځمه

لاهورته ځمه لرې وطن دی بیانه راځمه

وند یارې واچوه بخمل په زنګونه

* * *

۳ ــ دجلیخانی خواته پیپله

لاهورته ځمه لرې وطن دی بیانه راځمه

خدای دې ببری که چی بندیان دې بویونه

لاهورته ځمه لرې وطن دی بیانه راځمه

لاهورته ځمه لرې وطن دی بیانه راځمه

وند یارې واچوه بخمل په زنګنونه

* * *

دوهمه سندره - شازيبا چلمه

نیلی رازین که با جوړته می‌لیزینه

شازیبا چلمه

۱ - ستر گی می تاته تورولی

شازیبا چلمه

چی‌ته رانه غلی په سالوبی پا کومه

شازیبا چلمه

شازیبا چلمه

نیلی رازین که باجوړته می‌لزینه

شازیبا چلمه

* * *

۲ - یه سره کل شی پوزې پرې شی

شازیبا چلمه

تندیه مات شی په تایی څه لیکلی دینه

شا ز یبا چلمه

شازیبا چلمه

نیلی رازین که‌باجوړته می‌ازینه

* * *

۳ - نن می خوشخال زړگی خفه دی

شازیبا چلمه

د سوبو ته کوترې غږ. گی ور کی دینه
شازیبا چلمه
شازیبا چلمه
نیلی‌رازین که باجوړته می‌لیزینه
شازیبا چلمه

۵ ـ دناوې دجگیدواتې :

کوم‌وخت‌چی‌ناوې دخپل‌پلار له کوره آمی، اوبس او یاموټر ته پورته کوي، نوښځی دډیرې خوشحالی څخه په جوش او خروش سندرې وایی، اویوه ښځه ډول یا دریا ورته وهی یوه یاترهغی زیاتی‌ښځی ورته گډیږی اویوسوردسمال یا دخپل‌ټیکری (زړو کی) یوه څنډه پورته پورته گډوی‌او داسندره ورته وایی :

لومړی سندره: بغدادی کوتره خوب خوب نه کي ړنګیږی .

پلانیه(۱) خوب دمړخوبه (۲)شه‌ـپه‌وړه‌خوردې‌غور یږدی‌روانیږي

دوهمه‌سندره:

۱ ـ یاښه و ې خورې ښه و ې ، چی ترشنوونومی راتیره کړې
چی پلاردې په پیسوشو ته یی هیره کړې .

---

(۱) په دې ځای کی دناوی دوروو نوم اخلی

(۲) مړخوبه: ناوی ته چی خوب ورغلی وی‌اودشرم له لاسه خوب نشی کولای هغی ته مړ خوبه وایی

(۳) دد ی سندری ټکی‌ځکه رانه‌وړل شوې چی ټولی کنځلی اوله ادبی چوکاټ نه بیخی وتلی د ی .

۲ ـ یا ښه وي خورې ښه وې چې ترشنوو نومې راتیره کړې
چې مامادې په لوتو شوته یې هیره کړې

۳ ـ یا ښه وي خورې ښه وې چې ترشنوو نومې راتیره کړې
چې موردې په خوزو شوه ته یې هیره کړې

٤ ـ یا ښه وي خورې ښه وې چې ترشنوو نومې راتیره کړې
چې ورور دې په دنیا شوته یې هیره کړې

٦ ـ د میره کورته ناوې دراورو اتن: کله چې ناوې د میره کورته را ورسوي ، او د کور په دروازه کې یې له آس، اوښ او یا موټر څخه کوزه کړي نو تر څو چې یې خسر او خواښې ورته را وتلې نه وي ښځه نه را کښته کیږي. کله چې یې خسر او خواښې ورته راووتل بیا نو لې ښځې په داسې حال کې چې ډول یادریا ورته وهل کیږي ګډیږي او داسندره د خسر او خواښې په احترام وایې :

لومړۍ سندره : په غره کې دانګورونه ولاړه ده

پلانیه (۱) ورته را ووځه په وره کې دې کمکې نزوور ولاړه ده.

کله چې ناوې د کور له دروازې څخه ورتیره شي، نو د کور د دروازې څخه بیا د ناوې د کښیناستو ترځای پورې داسندره وایې:

دوهمه سندره: وور ه چې پور ته ځې چمبې یې لوړې دي .

---

(۱) دلته مراد د ښځې له خسر او خواښې څخه دی ، مګر په تکیو کې چې د میره ورور ، تره او نورو یادوی نورسندره ترآخره پورې په هماغه ډول تکراریږی .

داناوې د پلانی (۱) ده په‌مخ کی د پلانی (۲) د توپلک لړې دي .

۷ - د ناوی د ګښیناستو اتن : هغه وخت چی ناوې یی د میړه په کور کی کښینو له نو ټولی ښځی ګرد چاپیره ورسره کښینی. یوه ښځه دول یادریا ورته وهی او یوه ښځه ورته ګډیږي، ټکی وراچوي نورې ښځی بیاسندره نیسی. هغه سندره چی په دغه وخت کی ویله کیږي داده :

۱ــ پرې واچوئ لاسو نه
وئ مور (۳) بی شاترنګ (٤) کی
لور بی موزته پاتی شینه
پرې واچوئ لاسو نه

---

(۱) دلته مقصد د ښځی د میړه شخه دی .

(۲) پدې ځای کی د ناوی د میړه د ملګرو نومونه راځی تو له سندره په خپل شکل سره ویله کیږی.

(۳) پدی ځای کی د ناوی د مورد نوم نه وروسته په نورو ټولیو کی د پلار ، ورور ، ماما او نورو نومونه راځی، نوره سندره په هماغه شکل تکراریږی

(٤) شاترنګ : سرګردانی او لالهاندی ته وایی .

دوهم فصل

منثور کړنی ادب

متلونه

دپښتو دشفاهی ادب په څانگو کی یوه څانگه متلونه دي چی فکري او فلسفی خوایی دملتونو دعقلی او مفکوروي مدارجو په تعیین کی از ښتمن او مهم دی . دغه متلونه دیوې فکري ذخیرې په توگه له دیرې پخوانه په اولسونو کی موجود دي، اوله یوه نسل څخه یـی بل نسل ته انتقال پیدا کړی، اودعوامو دفلسفی مهم اجزاء هم دغه متلونه دي.

متلونه که څه هم لنډې او ساده جملی دي مگر حقیقت دادی چی په هر متل کی لوی حکمت پروت وي اودغه مقولی چی د تجربو نه وروسته منځ ته راغلی، او په عام، ساده او لنډ ډول یی په جامعه کی انتشار موندلی، دیوې سیمی، ټولنی او یوې زمانی دخلکو ذهنی او فکری سویه کردارونه ، اجتماعی روابط، هوښیاري ، دژوند سطحه، کلتور او نور په ښه ډول ترې څرگندیږي . دپښتو دشفاهی ادب دغی خوند ــ

ورې برخې (متلونو) درامنځ ته کېدو وخت او نیټه او شخص معلوم نه دی، بلکه په هره زمانه کې د نامعلومو کسانو له خوا ویل شوي دي وروسته له یوه سړي څخه بل، او له بل نه بل او ریدلي، د کورنه کلي د کلي نه قوم د قوم نه سیمې او د سیمې نه ملت ته رسیدلي او په ټولنه کې عام شوي دي.

د متلونو ویل په یوه زمانه، یوه سیمه او شخص پورې ارتباط نه شي پیدا کولای، بلکه په هره زمانه کې د هرې سیمې د خلکو له خوا ویل شوي دي چې ځینې یې له منځه تللي او ځینې یې تر اوسه پورې د خلکو په سینو کې شته او داهم نه شو ویلای چې وروسته تر دې به نور متلونه پیدا نه شي. له دې وروسته به هم د خلکو د تجربو په ذریعه متلونه منځ ته راشي، چې د خپل ارزښت، اهمیت او سوچه توب نه وروسته به په جامعه کې قبول او ومنل شي، او د خلکو محاورې ته به لار پیدا کړي.

ځینې ډیر داسې متلونه شته چې په یوه سیمه کې وي، مګر په بله سیمه کې بیا هیڅ درک نه لري او ځینې بیا داسې متلونه هم شته چې په ټولو سیمو کې د خلکو تر منځ ویل کیږي.

د تاریخ په اوږدو کې چې هر څومره وقایع او پیښې منځ ته راغلي په هماغه اندازه متلونه هم د تجربو نه وروسته را پیدا شوي دي، خپل اهمیت یې په جامعه کې تثبیت کړی او د خلکو تر منځ یې دویلو سلسله پیل شوې ده، متلونه د نظم او نثر په چوکاټ کې ویل کیږي، خو زیاته برخه یې په نثر کې ده. منظوم متلونه تر اوسه په منظمه توګه نه دي ټول شوي، خو

ښاغلی حبیب الله رفیع دخلکو سندرې په کتاب کې ددغه ډول متلونو (۴۲) نمونې خوندي کړې دي (۱) ددې له پاره چې محترم لوستونکي ددې ډول منظومو متلونو له نمونو سره آشنا شي غواړم چې ددې ډول متلونو دوې نمونې هم وړاندې کړم :

آس یې په خره بار کړ | خر یې پرې مردار کړ
آسان بې په سو وګټي | میړونه یې په خولو ګټي

همدا رنګه شاعران هم کله کله په خپلو شعرونو کې متلونه په داسې ډول راوړي، چې په متل دخپل شعر مزیت زیاتوي او دشاعر د خپلې خبرې دلاثبوت او رښتینوالي قوي دلیل همدا متل وي .

دپښتو شاعرانو په ډیرو دیوانونو کې موږ داسې شعرونه پیدا کولای شو چې پښتو متلونه پکې راغلي دي، دمثال لپاره دحمید بابا (۱۱۴۸ ه ق ژوندي) په دې شعر کې دا متل «چې نه کار هلته څه کار» پدې ډول راوړل شوی دی :

هلته څه غرض چې نه غرض متل دی – څکه نه کړې په ډیوه بلبل غرض (۲)

زموږ اصلي بحث په منثورو متلونو باندې دی او دمنظومو متلونو او دشاعرانو په شعرونو کې دراوړل شوو متلونو یادونه مې په ضمني ډول وشوه او س غواړم چې بیرته خپل اصلي مطلب ته راوګرځم او په منثورو متلونو څه زیاتې خبرې وکړم. زه به دلته دمتلونو په باب دلوستر

۱- دخلکو سندرې دحبیب الله رفیع ۱۲-۱۳۲ مخونه د۱۳۴۹ ش کال دتاریخ ټولنې خپرونه
۲- وګورئ درومرجان دښاغلي داکتر انورالحق ترتیب د۱۹۵۸ع کال دپېښور چاپ

نکودمعلوماتو دز یاتون په خاطر لو مړی دځینو پوهانو نظریات راوړم.

متلونه دپوهانو له نظره : دپښتو متلونو په باب انګریزی ختیزپوه اس ، سی تهاربرن داسی لیکلی دي:

«متلونه هغه عام حقایق دی چی دخلکو په خبرواترو کی په ذوق او خوند سره ویل کیږی . »

یو بل پوه چی سپړیانو نومیږی هم د متلونه په باب داسی نظر ورکړی دی: «متلونه هغه لنډې وینا ګانی دي چی بلاغت اورښتینو الی ولری. دغه ویناوې ددیرې پخوازمانی څخه په خلکو کی موجودې اوددوې خوښی وی.»

یو بل محقق چارلس انندل وایی : «متلونه هغه وړې مګرچستی جملی دی، چې دانسانی ژوند تجربې اومشاهدې پکی په ډیره، عجیبه اندازه، باآشناطریقه اوخوند ناك شکل وړاندې شوې وی . د طنز او مزاح مالګه هم ورسره وي» (۳) شوروې نامتو لیکوال ماکسیم ګورکی دمتلونو په باب لیکی : «دمتلونو په ساده الفاظو کی ترتولولوی حکمت پروت دی، متلونه اوسندرې تل لنډې وي خو فکر اواحساسات پکی دیوه کتاب په اندازه ځای شوی وی.» (٤) . په افغانی لیکوالو کی دمتلونو په باب ډیرو ښاغلو لیکوالو خپلی نظریې

۳- روهی متلونه (پښتو) دمقدمی ۲-۳ مخونه ۱۹۷۵ ع کال دپیښور دپښتو اکادمی خپرونه

۴- مواد اوشیرنی ماکسیم ګورکی مسکو ۱۹۳۹، ۲۱۴ مخ دکابل مجلی ۱۳۴۵- کال ددریمی ګڼی د (۱۱) مخ په حواله .

څرګندې کړې دی، چې موږ د تهو لو نظر یې دبحث داوږدوالی دمخنیوي په خاطر نه شوراو رای دهغوی له جملې څخه یوازې د پوهاند عبدالحی «حبیبی» دنظر په راوړلو اکتفا کوو، پوهاند «حبیبی» دمتلو نو په باب لیکلی : «پښتو متلونه ډیر لوی مقصد په لنډوو یناو وکی ښکاره کوي اودویساوړ ګنل کیږي او په و یناکی دقالب اوشاهدمثال لري» (٥)

اوس چې مودپښتو متلو نو پـه بـاب ځینی خبر ې لوستو نکو ته وړاندې کړې . بهتره بولم چې دهغو هڅواو کارونو یوه یادونـه هم و کړم چې دپښتنی متلو نو د راټولو لو په برخه کی شوی دی .

دزمانې په تیر یدوسره ډیرزیات متلونه راپیداشوي اوډیر بی له منځه تللي دي او هغه چـې تـراوسه پورې دخلکوسره شته بیا هم دومره زیات دی چی راټولول اوخوندي کول یـې ډیر کاراودپنډو کتنا و لیکل غواړی تراوسه پورې چې کوم کتابونه بـدې بـرخه کی لیکل شوی دهغومتلو په نسبت چې په جامعه کی شته ډیرلږ دي .

زه غواړم چې لومړی دهغومستشرقینو یادونه وکړم چې پښتو متلونه یې راټول کړی او په مجموعو کی یې چاپ کړیدي اوبیابه د پښتو لیکوالو هڅې په دې برخه کی یادې شی .

دختیز پوهانو له جملې څخه اس ـ اس تهاربرن چې دپښتو متلونو کومه مجموعه د (۱۹) پیړۍ په وروستۍ څلورمه کی راټوله کړې وه دهغې یوه برخې یې په خپل کتاب (بنویاز موزافغانی سرحد) نومی کتاب

٥ـ کابل مجله ۱۳۵۲ کال (٥) ګڼه (٦٨) مخ .

کې خپره کړې ده دا کتاب په ۱۸۷۶ع کال کې چاپ شوی دی . (۶)

دوهم مستشرق مشهور فرانسوی پښتو پوه جیمز دارمستتر (۱۸۴۹-۱۸۹۴ع) دی چې په خپل مشهور کتاب د پښتونخوا د شعر هار و بهار کې یې د پښتو متلونو (۶۰) نمونې خوندي کړې دي (۷). دریم سړی چې موږ یې باید د پښتو متلونو د ټولوونکي په توګه یادونه دلته وکړو هغه کرنال سي - اي - بایل دی . ده په خپل کتاب پښتو نکلونو کې د پښتو ډېر متلونه له انګریزي ترجمې سره خوندي کړي دي دغه کتاب دوهم ځل په (۱۹۳۸ع کال) په پېښور کې د فقیر چند مهر له خوا چاپ شوی دی . (۸)

همدارنګه میجر هانري، جارج راورټي (۱۸۲۵-۱۹۰۶ع) په خپل پښتو ګرامر کې د پښتو متلونو څه نمونې راوړې دي (۹) د پېښور په دسترکټ ګزېټر او ځینو نورو ګزېټرونو کې د پښتو متلونو نمونې او ترجمې راغلې دي، معاصر شوروي پښتو پوه صولت شاه میرګن اف هم د پښتو متلونو په باب یوه څېړنه لري ، چې په هغې کې یې د پښتو متلونو ژبنۍ او عروضي خواوې څېړلې دي او د پښتو متلونو نمونې یې په روسي ژبه ترجمه کړې دي . (۱۰) په مستشر-

---

(۶) روهي متلونه د پښتو برخې د مقدمې (۶) مخ

(۷) د پښتونخوا د شعر هار و بهار د جیمز دارمستتر ۲۱۹ - ۲۲۳ مخونه د ۱۳۵۶ کال کابل چاپ پښتو ټولنه.

(۸) د زیري فوق العاده ګڼه ۲ نمبر ۵۹ مخ ۱۳۵۶ کال پښتو ټولنه

(۹) وګورۍ پښتو ګرامر د هانري جارج راورټي (۱۸۶۵ع کال د لندن چاپ.)

(۱۰) وګورۍ په خارج کې پښتو څېړونکي ۹۳-۹۴ مخونه د ۱۳۵۳ کال د پښتو ټولنې خپرونه.

قینو کی دتولونه وروستی محقق دنمار کی پښتویوه پادري جنز انوللد سن دی ،چی په خپل کتاب «سپوزمیه کرنګ وهمه راخیژه» کی یې دپښتومتلونوسل نمونی له ترجمی سره خپرې کړیدي (۱۱) کیدای شی چی نوروغر بی اوشوروی پښتوپوهانو دپښتومتلو وپه باب تحقیقات اوخپر نی کړی وی اودپښتومتلونونمونی په خپلوژبو ترجمه کړي وی چی دتولوراوړل موږله بحث نه لرې کوي په همدې اساس ددې څومثالوپه راوړلو بسنه کوو.

په پښتولیکوالوکی مرحوم غلام محی الدین افغان (۱۳۰۰ش مړ) د پښتو متلونوسل نمونی په سراج الاخبار افغانیه (۱۹۱۱-۱۹۱۹ع) کی خوندي کړې دي. همدارنګه دپیښور دیوسفزو دعلاقی دکوټی اوسیدونکی مولوي سیداحمد (۱۲) د(۱۹) پیړی په حدودوکی د پښتومتلونویوه مجموعه دروضة الامثال (۱۳) په نامه ټوله کړه. دمحمد عمر په نامه یوه سړي هم د(۱۳۱۱ش) په حدودوکی دلندیو اونوروادبی آثاروپه یوه مجموعه کی دپښتومتلونوڅه نمونی راوړې دي (۱٤) په وروستیو

۱۱- وګوری سپوږمیه کرنګ وهه راخیژه ۱۴-۴۸- مخونه دپیښور چاپ :

۱۲- فرهنګ زبان وادبیات پښتوج ۱ ص۲۲٦ (۱۳) دروضة لامثال یوه نسخه په بریټش موزیم کی تر ۲۸۳۲ نمبر لاندی خوندی ده . دغه نسخه چی د پادری هیوزله خوا موزیم ته وړل شوې په (۱۸۷۵ع) کال د غلام جیلا نی پیښوری په خط کښل شوې او (٦۷۹) متلونه لری. دغه نسخه پروفیسر بلو مهارت په خپل فهرست (۱۹۰۵ ع)کال دلندن چاپ (کی معرفی کړې) پښتوکتابونه ٦۳ مخ

پروفیسر میکنزی هم په خپل فهرست کی دغه نسخه معرفی کړې ده (وګوری۱۳۰۰منسخ د ۱۹٦۵ کال کل داکسفورد چاپ) .

(۱٤) فرهنګ زبان وادبیات پښتوج اص ۴۵۰

کالونوکی چی د پښتوژبی د ګړنی ادب دبیلابیلو برخودټولوله پاره کارشوی، پدې لړ کی متلونه هم راټول شوی ، اودهیوادمختلفوموسسو چاپ کړيدي، زه اوس دلته د هغوکتابو او مستقلو آثارو یادونه کوم چی متلونه پکی ټول شوی دی:

(پښتو متلونه) پدی کتاب کی (۲۳۱) متلونه ښاغلی امین الله زمریالی اوښاغلی محمد قدیر له خوا خوندی شوی دی (۱۵).

متلونه: پدې کتاب کی (۱۹۱۰) متلونه لوی فولکلوریست مرحوم محمد ګل نوری (۱۳۵۲ش مړ) راوړی دی (۱۶).

پښتو متلونه د پښتو متلو دادریم کتاب دي ، چی (۲۷۷۰) متلونه یی دالفبی په ترتیب پکی خوندی کړی دی (۱۷).

سپیڅلی ګایونه او (ملی ادب) په نامه دوه کتابه دپروفیسرسیال کاکړ له خوا خپاره شوی چی د پښتو متلو نمونی لری (۱۸).

ادبیات مردم: ښاغلی محمدشفیق وجدان پدغه کتاب کی (۱۸۷) پښتو متلونه دمتلو نو له چاپی مجموعو څخه انتخاب کړی دی (۱۹).

---

۱۵ دغه مجموعه دپښتوټولنی له خوا خپره شویده.

۱۶- دغه مجموعه په ۱۳۳۷ هش کال دپښتو ټولنی له خواپه ۱۵۶ مخونوکی خپره شویده. ۱۷ دپښتو متلونو کتاب دښاغلی محمدین ژواك په اهتمام په ۱۳۴۴ش کال په ۱۷۳- مخونوکی خپور شوی دی. ۱۸- سپیڅلی ګایونه په ۱۹۶۰ع کال په کوټه کی په وړه کچه ۹۶ مخه چاپ شویدی اوملی ادب په ۱۹۷۲ع کال په ۴۸ مخوکی دنوموړی سیال کاکړ په وسیله د کوټی دپښتو اکاډمی له خوا خپور شویدی.

۱۹- وګوری ادبیات مردم ۱۰- ۱۶ مخونه ۱۳۴۸ کال چاپ

«امثال اوحکم » پدې کتاب کې دښاغلي عنایت الله شهراني له خوا زیات- متلونه خپاره شوي دي . (۲۰)

«فولکلوري ګېډۍ» پدغه کتاب کې هم د متلونو بحث شته، او مؤلف د منګلودسیمې (۳۸) منثوراو (۱۳) منظوم متلونه راوړي دي . (۲۱)

«روهي متلونه» داد پښتو متلو یو بل پنډ کتاب دی ، چې ښاغلي محمدنواز- خان طایر ترتیب او تدوین کړی او د دوهم ټوك په خپرېدو سره به یې د متلونو شمیر دولسوزرو متلوته ورسیږي (۲۲)

نور متلونه هم دهیواد په خپرو نوکې په ګډوډ شکل خپاره شویدي ماچې هم کوم متلونه دپکتیا دخوست په سیمه کې راټول کړي دټولو چاپي مجموعو سره مې مقایسه کړي، او ټول داسې متلونه دي چې چیرېنه دي چاپ شوي او که کوم متل په اختلافي شکل په ځینو مجموعو کې راغلي وي ، نومې په لمن لیك کې ورته اشاره کړې ده. اوس د کتاب پدې برخه کې دمحترمولوستونکوله پاره هغه متلونه وړاندې کیږي :

---

۲۰ - امثال وحکم (پښتو) په ۱۳۵۴ کال کې دبیهقي دکتاب چاپولو موسسې له خوا دپښتو څېړنو دبین المللي سیمینارپه ویاړ په ۱۶۴ مخونو کې چاپ شویدی.

۲۱- فولکلوري ګیډۍ دعلي محمدسوبمن ۱۷۰- ۱۷۹ مخونه ۱۳۵۵کال د پښتو ټولنې چاپ

۲۲- دروهي متلونه په لومړي ټوك کې د(د) تر ردیفه پورې متلونه راوړل شوي دغه مجموعه په دوه ډوله چاپ شوې یو دو ل یې خاص پښتودی ، چې ۲۷۸ مخونه اوبل یې اردو ترجمه هم لري چې دمخونوشمیر یې تر ۶۱۴ پورې رسیږي دغه دواړه کتابونه دپېښور دپښتو اکاډمي له خوا په ۱۹۷۵ع کال چاپ شویدي.

۱ ـ آسمانه پاس یی کوزمه شی دناپوري (۱) په لاس مه‌شی .

۲ ـ اوبه که څومره پټی بهیږي بیاهم په ورخ جوتیږي (۲)

۳ ـ بخته چیرې وې دوخته (۳)

٤ ـ بیدیاته پرده وړه کورته کړه ده وړه .

۵ ـ پردي په سرینبونه گډیږی ، خپل پـه امبیرو (٤) نه شـکیږ ي .

۵ ـ پردي وطن ته جامه وړه خپل وطن ته کړده وړه .

۷ ـ په زاړه پسی خوارې مه‌کـړه مړبه شی، په کوچنی پسی خواری مه کړه هیربه یی شی .

۸ ـ په کوچوکی مچ مه غواړه .

۹ ـ په خوږه خوله منـگورهم له غاره ووزي .

۱۰ ـ تربور چی په اووقرآنو کی پیدا کړې بیاهم ارزان دی.

۱۱ ـ تربورکه پړی وي ته یی منـگور بوله.

۱۲ ـ تربور مړکه غنده یی مه (۵)

۱۳ ـ چی‌اوبه بهیږی توبین (تیمم) نه دی روا (٦)

۱٤ ـ چی په ویاله توپ واچوې لښتی یی‌ترمنځ څه شی وي .

۱ـ ناپورې =قصدمن ، بدبین

۲ ددی متل بل شکل داسی دی: اوبه په‌کمزوری‌ورخ ماتیږی (روهی متلونه ۱۹مخ)

۳ـ ددې متل بل شکل داسی دی: بخته و لی نه راتلی دوخته (روهی متلونـه ۳٦مخ)

۳ـ امبر : امبور. (۵) ددې‌متل بل شکل داسی د ی: تربورمړکه غیبت پرې مه واید (روهی متلونه ۹۲مخ)

٦ـ ددې متل بل دول داسی دی . چـی اوبه و ی تیبانه (تمیم) ته څه حاجت وی (روهـی متلونه ۱۱۷ مخ)

۱۵ - چې په اوبو ګډیږي څپلی به ور ته کاږي .

۱٦ - چې څنګه یې چوړ (۱) داسې یې بچوړ (۲)

۱۷ - چې تل ځي په غدی یوه ورځ به واوړي په بدی .

۱۸ - چې ځان دووس نه کړي دنیانه ډیر یږي .

۱۹ - چې زاړه شي نوړانده شي

۲۰ - چې زاړه شي نو خوازه شي .

٦۱ - چې ژبې وم دنجو نوپسول وم چې زوړ شوم اوس یې پیغور شوم

۲٦ - چې ژبې وم دنجو یاروم چې زوړشوم نو یې پیغور شوم ،

۲۳ - چې سنځله ګل کړي شمال غرغر کړي .

۲۲ - چې غروي شمال لري .

۲۵ - چې غل نه بی قهرجن په څه یی .

۲٦ چې غم په دړه ورننوزي صبر په دریځه ور ننوزي .

۲۷ - چې ګوړه یادوم خوله مې خوږیږي (۳)

۲۸ - چې نه پوهیږې نو پیسې دخاوروسره ګډې کړه .

۲۹ - چې نه خوري هغه نه خرواره خوري .

۳۰ - چې نه تری خلاصیږی هغه میلمانه ته دوه واري ستړي مه شي ور کړه .

---

(۱) مراد مور اوپلا ردی

(۲) مراد اولا دونه دی

(۳) دامتل په ځینو سیموکی داسی دی . ګوړه ګوړه کوه خوله به دې خوږه وی

۳۱ ــ چې وړوکی بې ملك وي کلی بې الك وي .

۳۲ ــ څوك يې وز يزوي دچادغاړې زورشي .

۳۳ ــ څوك چې اوښان اخلي ، نو جگې دروازې به ور ته ږدي

۳٤ ــ خپل نغن دبل په شکوره کې دی .

۳۵ ــ خرپلار که کال په تير که .

۳٦ ــ خړې او به چې راشي رڼې او به په سر و اخلي .

۳۷ ــ خوار و دان مه کړې ودان خوار مه کړې .

۲۸ ــ خوار پور وړی چاوژلی دې .

۳۹ ــ خوړلی خواره ډيرزورلري .

۲۰ ــ ځان خوندي لره بل غل مه بوله .

٤۱ ــ داکال به تيرشي ستاداسوی زنگونه به مې هير نه‌شي

۲۱ ــ داگمان مې نه شي ، چې ميزاگل نه‌مې زوی و شي .

۲۲ ــ دپښتانه وار نه پاتې کيږي .

۲۲ ــ دتره زوې دتربره (تربور) زوی .

۲۲ ــ دښتلوبې دگټلوبې نه يې .

۲۵ ــ دخوابې يو هډدبنې دی .

۲٦ ــ دډك جام څخه چې نه اوړي بيا هم اوړي .

۲۷ ــ دزړه چارې په جنت کې دي .

۲ــ ددې متل بل شکل داسې دې : خريار کره مطلب پرې باره کره (روهی متلونه ۸۲ مخ)

٢٨- دبنى غوبنى بنه بور واوى .

٢٩- دگودى (مشك) خوله ولاڕه ،ژدنوستغوبنت .

٥٠ -دليوانو سرەميزێماتوى دشپنو سره تندى وهى.

٥١ دموتهى پاس لومه كوه

٥٢- دنيا دزڕ ەسرنه اخيستى شويده .

٥٣- دنيادزوى ،وروور سروهى .

٥٢ - دومره دچاسره مه‌خانده چى پەحلق كى‌دەژبێ ووينى.

٥٥ - دوه‌تنه‌به‌بنه‌واى چى‌دريم شيطان يسى‌پەمنخ كى‌نه‌واى .

٥٦ - دمپەورخ كى‌سل سرونه خيشتوى يوهم نەشى كلولى .

٥٧- دم يى پە كفنو پسى وليزه هغه‌پەتوتانوو نخو ت .

٥٨ - ديرويل دخداى بنه‌دى (١)

٥٩- زڕەدێ هم كيزي اوساڕەديهم كيزي .(٢)

٦٠- زورپەزاري نه كميزى.

٦١- زوى چى وڕوكى‌وى گل دى بو يوه‌يى، كله چى‌لوى شى تر بوردى مينجوه يێ .

٦٢ - زەكه وڕەيم پەتهول پورەيم .

٦٣- سئنى نەژڕل غو نـدى پاس‌پەژڕل

٦٤-ستونزەدمێڕه مڕبنت‌دى

١- ددێ متل بل شكل داسى ليكل شويدى ديرويل دقرآن بنه دى (امثال اوحكم ٩٢مخ)
٢- دامتل په څينو سيموكې داسى دى: هم يسى زڕه كيزى هم يـى ساڕه كيزى .

٦٥- شغالان ز امن ز يږوی د شډ ل په جواروېې سترو ی .

٦٦- ښکلی کوم ښکلي چی ز ړه منلی .

٦٧ ښو ته بیړه کوه بدو ته سیله.

٦٨- ښه په ځان کی دي که په جهان کی .

٦٩ - ښه په خدای پو رې معلوم کړې .

٧٠- ښی لاس کیڼ لاس ته احتیاج مه کړې (١)

٧١ - صبر یه په پردی کور ر میړ نیه .

٧٢ - ظالم په ظالمه لا رځی ،

٧٣- غل چی غلا کوی خدای قرآن ته یی کو ی (٢)

٧٤- غم په نغری پو ر ی ښه دی ، نه ر اپو ر ی

٧٥ - عمر خو یوه ځته غله نه ده چی تیر شی

٧٦ - کال گو ر ه لو ړ و هه .

٧٧ - کلال په خپلو لوښو کی خوار .

٧٨ - کو رمی درجارشه ترو یشوبرړ و (٣) پو ر ته .

٧٩ - که بازار په یوه پیسه شی چی پیسه نه وي نو څه به یی کوې.

٨٠ - که پرون دې خوله ر انه کړه نن پر ون دی .

٨١ - که خپله ډوډۍ دې ور کړه نو د بل به هم وخورې .

١- دامتل په ځینو پښتنی سیموکی داسی دی : خدای دې یولاس بل ته نه احتیا جوی

٢- دغه متل بل شکل داسی دی: غل چی غلا ته ځی قسم په شاگرزوی(امثال او حکم- ص ١١٢)

٣- تیرو دستك.

۸۲ ـ که یوه خبره په نهو غاښو ووزي هغه په نهوغرو واوړي .

۸۳ ـ لږ وړ کړه دیر و نیسه (۱)

۸۴ ـ لمدې ختې په دیوال پورې ښې ښخبېږي .

۸۵ ـ له هغه چانه ودارشه چې له پوزې یې ګرنګ څاڅي .

۸۶ ـ ماما! سردې مه خلاصېږه غمه .

۸۷ ـ مړ خو بیولی یوشی دی .

۸۸ ـ مړ ی ژوندی نه دي سره مخي .

۸۹ ـ میښې ته یې چې ګل ونیو هغې تول په خوله کړ (۲)

۹۰ ـ میښه چې زوروې نو جیتګې (اولاد) یې ورته وهه .

۹۱ ـ میړنی آس په خندنی ځل کې ښه ښکاري .

۹۲ ـ ناوې راوړل یرې (۳) وی منډل په خپل لری .

۹۳ ـ نرسړی میړه نه لری پورورې یې میړه دی .

۹۴ ـ یارې که په وریجوغوړیووي نه دې وي (٤)

۹۵ ـ یوشخوند دې وي خو ښه شخوند وي .

۹۶ ـ یوه یې ژرنده ختمله بل یې پنده (٥)

۱ـ دغه متل په داسی شکل راغلی دی: لږ ورکړه دیروګټه (پښتومتلونه ۱۳۸ مخ)

۲ـ دا متل په کاکړوکی داسی دی: خره ته یې ګل ونیو هغه وخوړ (ملی ادب ۲۹ مخ)

۳ـ یری: په تبې باندی پاخه شویو غنمو ته وایی. هغه بیا میده کوی وروسته له هغه یې د اوبو اویا شړوبو سره ګډوی اوخوری یې.

۴ـ دا متل په ځینو مجموعوکی داسی لیکل شوی دی. یاری چې په شفتالو شوه نو ونه شوه (امثال اوحکم ۱۶۰ مخ.)

۵ـدا مثال‌اوحکم‌مولف دامتل‌داسی لیکلی دی: یویې‌ژرنده ختمله بل‌یې‌لکې (۱۶۳ مخ)

د متلونو قصې

دعامیانه فلسفې دغه غوره اوپه زړه پورې برخه (متلونه) چې په اواسې تخلیق کې دفکراوتخیل دیوې درنې سرمایې ارزښت لري هرمتل یې په یوې موضوع پورې دارتباط له مخې منځ ته راغلی اوځانته بیله فلسفه لري .

دمتلونو دغه عامیانه فلسفې اودموضوع د منځ ته راتګ بیس په ډیرو کوچنیو قصو کې نغښتې وې چې په فولکلوري تحقیقاتو کې یې ورته دمتلونو دقصو نوم ایښې دی .

له دغو قصوڅخه سړی، دهر متل دمنځ تـه راتګ په عامل اوفلسفه پوهیږي .ددغو قصو راټول له دې پلوه مهم دي چې دځینومتلو په اصلي مفهوم پوهیدل تـه رهغې چې سړی ورتـه ښه دقیق نه شي ،څه آسان کارنه دی . دمتلونو قصې لههر چا خصوصاً دنوروژبولهویونکو سره دهر متل دفلسفې په پوهیدنه کې مرسته کوي .

دمتلونو دقصو په بـاب زمادمعلوماتوله مخې یو کتاب «دمتلونو قصې » په نامه خپور شویدی ،چې (۱۱٤) پښتومتلونو قصې یــې پکې

خوندی کــړیدی اودمخونوشمیر به یــی (٤٦٠) دی (١) ،اوس زه دمتلونو هغه شل قصی په لاندې ډول وړاندې کوم ،چې می په خپله سیمه کی تولی کړی دي :

١ - یوسړی‌وه‌چی‌ډیرزیات‌په‌گیډه‌مین و. کومه ورځ‌چامیلمستیا کړې وه ،ډیرخلاك یی ورغوښتی وو.په هغوکی همدغه په‌گیډه مین سړی هم و. تولو خلـکوډوډی وخوړه ، دې په گیډه مین سړي ذ.و دومره ډیره وخوړه چی په‌آخرکی یی په نس دردشو. نــه چیرې تلای شواونه یـی‌بل‌ځ‌ه‌کولای‌شول. یوازې په‌ناروشو، چی مړ کیږم بل سړي ورته‌وویل‌چی«که‌خواړه پـردي وو،گیډه‌خودې خپله وه» چــاخوقرآن نه ودرته نیولی ،چــی دومره ډیره ډوډۍ وخوره .

٢ ــکومه ورځ دیوه سړي دکورتــرمخ منگورتیرشو. دکور څښتن چی ولید،نوپه ژړایی شروع وکړه یوه بل سړی چی داحال ولید، چی دکورخاوندژاړی، نوپوښتنه یی تری وکړه ،چــی پلانیه ولی ژاړې هغه ورته وویل‌نن ورځ زماد کورترمــخ منگورتیر شو، ده ورته وویل چی خیردی دانوپه ژړانـه ارزی،هغه خوانسان نه دی چی په څه شي پـوه شی .ده ورته ویــل چی پـه دې زه هم پوهیږم. زه ددې له پاره نه ژاړم چی زمادکورترمخ تیرشوددې له پاره ژ اړم‌چی «سباته یـی راباندې لارشوه» هره ورځ به بیاپه‌دې لاره ځي اوراځي .

١- وگوری ، دمتلونوقصی‌دښاغلی‌ابوالخیرځلاندده ١٩٧٥ ع کال‌دکوتی‌چاپ‌پښتوا کاډمی.

۳ - په یوه سیمه کې په یوه شپه درې ودونه ووو په کلي کې دبدسکي په نوم یوسړی اوسیده ، اودغو درې واړوودونو خاوندان دبدسکي پاخپلواناو یاملګری وو. په هرصورت خو بدسکي یې دغو درې واړوودونو ته خبر کړی و، کله چې ماښام رانږدې شو، نو دبدسکي کله یوه واده ته زړه وشي ، چې ورشي، کله بل ته .

کله په یوه لار روان شي کله په بله. بالاخره پدې چرت کې دی ،چې اوس کوم یوه ته ولاړ شم . که یوه ته ورشم بل پاتې کیږي او که بل ته ورشم بل پاتې کیږی، که ورنه شم نو حتماً خفه کیږي آخو اخر په چرتو کې دوب شواوزیات وربانديې ناوخته شوه اوددری واړوودونو خخه پاتې شواواوس ټول خلك دامتل کوی چې «بدسکي یو ښادی یې ډیری»

٤ ــ دوه تنه سړی سره په جنګ شول ، خویوه تن ځان خلاص کړاو په منډه یې پیل وکړ.دوهم هم ورپسې منډه کړه مګر هیڅ نه شووورپسی رسیدای ،دریم سړی چې ولیدنو په دوهم سړی یې غږ وکړ،چې دمخه لوری شه اواوس داخبره په متل بدله شوی اوهر څوك یې وایی چې«یوورپسی رسیدای نه شوبل ورته ویل چې دمخه لوری شه . »

٥ ــ یوسړی وچې ډیره زیاته دنیااودولت یې ګټلی واوټول یې خپلوزامنو،ورونواو لمسیانو ته ساتلی وو،هیڅ مصرف یې نه کاوه خپل ژوندیې ډیر په سختۍ تیراو، نوخلکو به چې ددغه سړي ژوند ولید، ویل به یې چې پلانی سړی پردی دنیاشپون دی،کله چې

نو موړي سړی مړشو، ټوله دنيا اودولت يې ده‌وارثينوته ته پاتې شو او هغوی خپل ژوند په مزو، چړچوپي تيراوه . دوخت په تيريدو سره دي خبرې دمتل بڼه اختيا کړه اواوس هرڅوك چې داسې سړی ووينې ، چې دنيا گټې مصرف کوي يې نه اوزيات بخيل وي نو وايي چې : «پلانی سړی ديـردی دنيا شپون دی .»

٦- يوسپين زيری سړی وچې ځوزامن يې لرل. دغه‌سپين زيری په دنياکې غيرله يوه کورڅخه‌نورهيڅ شی نه لرل‌چې‌دهغی له درکه يې روزی پيداکړي وای، اوخپل ژوند يې پری تير کړي وای اوخپله‌دی هم‌له کوره‌نه‌شووتلای‌ځکه، چې‌ډيرسپين زيری ونو يې زامن مجبورشول په غلاپسې پيل‌وکړپه‌آخرکې يې پرته له غلانور کارونه هيڅ دلاسه‌نه‌کيدل، ددوی‌غلاکثره دميږو، وزواوغوايانووه. کوم وخت به يې چې داما لونه راوستل‌کوموته به يې چې کورکې ضرورت‌و، حلال به يې کړل نوربه يې خرڅ کړل هغه چې به‌يې حلال کړي وودهغوی وازدی (وازگی) به يې خپل پلار ته‌ورکولی پلاربه يې په ډيره اشتهاسره خوړی، پلاربه يې‌وازدی (سپينی بللی) کله به يې چې وازدی وخوړی‌نوويل به يې «چې خدايه‌ته‌می‌وينی راکوی داسپينی‌سپينی» چې اوس دغې خبرې دمتل بڼه غوره کړی اوپه ټولوخلکوکی مروجه ده .

* * *

٧- په يوه کلي کې يوه ښځه وه چې دکلي دنورو ښځو په نسبت

ډیره کوچنۍ ا وقد یې ټیټ و، خو داښځه په خوله کې ډیره تیزه او چالاکه هم وه، او په حقیقت کې یې ډیرې زیاتې میړانې او همت هم درلود، په پښتنو کې یوه اصطلاح ده چې وایې «پلانۍ په پوزه نرمچ نه پرېږدي» نو دغې ښځې هم په پوزه باندې نرمچ نه پرېښوده، او هرچاته به یې ښه او بد ور گرزول. کومه ورځ دغې ښځې د کلي د یوې بلې ښځې سره جنجال پیدا شو، او خبره پیغور ته ورسیده نو موړې ښځې د خپلو نورو خبرو تر څنگه دا خبره ور ته وکړه: «زه که وړه یم په ټول پوره یم» او س دا خبره د متل په بڼه او ښتې او ټول خلك یې وایې.

* * *

۸- کومه ورځ یوې ښځې ته د پیسو ضرورت پیدا شو، ور وسته له هغه د کلي یوې بلې ښځې ته ور غله او دهغې نه یې پیسې په قرض وغوښتې. هغې ښځې ورته وویل: چې پیسې نه لرم نوموړې ښځه ترې وړه او خپل ضرورت یې رفع نه شو. بله ورځ بیا دغه ښځه دهغې ښځې کورته ورغله خبرې یې سره کولې په خبرو کې قرض ور کوونکې ښځې قرض غوښتونکې ښځې ته وویل: چې په هغه ورځ چې ته زموږ کورته راغلې وې او پیسې دې وغوښتې په هماغه ورځ له ماسره پیسې نه وې، اوس که دې په کار وي در به یې کړم دغې ښځې داسې فکر وکړ چې د دې ښځې حتماً مشکل حل شوی دی، او په دې باندې پوهیده چې له مانه پیسې نه غواړي او په دې نه وه خبره چې تر اوسه پورې یې لا پیسو ته احتیاج شته. نوموړې ښځې چې دا خبره

واوریده وخت یی مناسب وګاڼه سمدلاسه یی دامتل ورته وواېه.
«که پرون دې خوله رانه کړه نن پرون دی» یعنی که په تیره ورځ
دې پیسې رانه کړې نن یې چې راکړې هم صحیح خبره ده.

* * *

۹- په ژمي کې د کوچیانو کلې ښکته رواني وي . دیوې بوډۍ
لمسی (دلورزوی) پر آس سپورو ، نیایی په پښورو انه
ډیره زیاته ستړې اوستومانه شوی وه، لمسی یې چې ولیده نوورته
وویل: ادې خنګه یې او خنګه وروو رورو انه یې هغې ورته وویل:
چې، زویه! ډیره ستړې شوی یم. لمسی یې بیاورته و ویل چې: ښه
لږه دمه وکړه بیا نوراځه. لمسی یې بیا په آس سپور شواولاړ کله
چې دبوډۍ دوهم لمسی «دزوی زوی» راورسید، او هغه هم پر آس
سپورودخپلې نیانه یې پوښتنه وکړه، چې خنګه یې هغې ورته وویل:
چې ډیره ستړې شوی یم، دستي یې لمسی له آس نه ورته کوز شو
اوخپله نیایې آس ته وروخیژوله ، هلته نو بوډۍ دامتل وواېه «عبث
خواری دلورپه لمسی»

* * *

۱۰-یوه زورور سړی دیوه بل غریب سړی په حق تیری او ظلم کاوه
او همیشه به یې ازاراوتکلیف ور کاوه، او خپل کبراوغروردومره
لیوني کړی و، چې هیڅ شی به یې نه ایدل خوهماغه غریب سړی به
بیا هم خنګ ور کاوه او جنګ به یې نه ورسره کاوه. دغه ظالم او کبر جن

سړی په ټولو خلکو دا گمان کاوه، چې ټول له ما څخه داریږي، یوه ورځ یې د کوم بل سړي سره په کوم شي خبري پیداشوې، دغه سړي چې هرڅو مره په انسانیت ورسره غږیده، مگر بیاهم کبرجن د خپل کبر څخه وانه وښت، په آخر کې دی بل سړي ورته و ویل، چې گوره دغه ډول کارونه اخر پښیماني لري، که سم لاړنه‌شې نوزه به دی برابر کړم کبرجن ورته وویل چې «ورځه که‌توره دی‌لنده‌وي یـو بل پل‌هم و رپسې کښیږده».

اوداخبره اوس په متل اوښتې اود ټولو پښتنو تر منځ ویله کیږي.

* * *

۱۱ــ یوساده سړی واوهمیشه به یې د خپل ځان په تاوان کارونه کول، په هیڅ کې کارکې یې گټه نشوای کولای. دده نژدې دوستانو به چې هرڅو مره نصیحتونه ورته وکړل بیا به یې هم کوم تاثیر له وربانډې کاوه په‌آخر کې دوستان هم ستړي شول. کوم سړی به چې دده دبدو اوغلطو کارو له لاسه دغه نژدې دوستانو ته ورغلل او شکایت به یې ورته وکړ نو دوستانو به یې ویل، چې موږ نوره خوله وربانډې تنها کې کړه، او نصیحت مونه اوري اونه یـې مني، مگردده بیا هم «هغه ډول اوهغه لرگی دی.»

۱۲ــ ځینې خلك داسې عادت لري، چې ته دښوخبره ورته کوې هغه بده خبره کوي، چې ته نصیحت کوې هغه بل مقصد ځنې جوړوي مطلب داچې عقلي قوه یې ډیره کمزورې وي اود هرڅاسره جنجال

کوی او داسی سړي ته د ... نسبت کوی، سپی چی سړی و وینی نو ورته غاپی او حمله پرې کوي. دغه ډول سړی چی څوك و وینی نو دامتل کوي «(پلانی) .... په خوله پورې سپی تړلی دي».

۱۳ـ ځینی صادق او پاك خلك پیدا کیږي چی یوه یی وی په رښتیا یی وی. په ډیر وچــالاکیو او شیطانیو نه پوهیږي که چیرې څــوك لږ شه ورسره و کړی، نو هغه بیادژ و ندتر آخره پورې مرستی او کومکونه ورسره کوی او که چیرې څوك لږ بدورسره وکــړی، نوهر وخت یی چی لاس برابر یږی، دخپلو لږ و بدو انتقام د تل له پاره ترې اخلی، او بیا په هیڅ ډول نه ورسره جوړیږی چی دداسی سړي په مقابل کی دامتل وایی، چی «دپلانی ... شه په شو نه گلیږي او بدیی په بدو.»

۱۴ـ ځینی کسان چی خلکو ته ډوډۍ ور کوی، هرڅومره که یی پخه کړې وي بیایی هم په ډو ډۍ کی خوندنه وی. هرڅوك چی ور کره ډو ډۍ خوري نودامتل وایی: چی. «دپلانی.. دکورمالگه نه ده په ځای» ددې سره په څنګ کی که دچاپه کور کی کومه ښځه ښه ډوډۍ پخوی نود هغی ښځی په باره کی وایی: چی «پلانی زموږ دکورمالگه ده».

۱۵ـ وایی چی یو وخت موږکان دپشی (پیشو) څخه ډیر په عذاب شول. نو ټولو موږ کانو مصلحت سره وکړ چی راځئ پشه په ټولو باندې ووهو، او مړه یی کړو، بله ورځ چی راټول شول نویوه موږك ورته وویل چی میاوته به یی څوك ودریږی. داخبره اوس په متل تبدیلــه شویده، هغه کمزوري کسان چی دزوروو رسره څه لانجه پیل کوی، نو

ځینې خلک دغه خبره د متل په ډول ورته کوي چې «مېږوته به یې څوک ودرېږي.»

١٦ـ ځینې کسان چې د سپینتي (بلۍ) لوبه کوي، نو یوه سپینتي د لاس ددوو ګوتو په منځ کې د بخت برکت تکړه او بیا سپینتي په نوم ږدي او د ټولو ښپینتو ګټل په هماغه سپینتي پورې مربوطه ګڼي چې دغې سپینتي ته د ګورت سپینتي وايي. په ځینو کورنیو، کلیو او قوم کې چې ښه برکتمند بختور، تکړه سړی وي، هغه مړ شي یا چیرې لاړ شي، مقصد دا چې د خپلې کورنۍ، کلي او قوم څخه لرې شي او بیا څوک د دې ډول صفاتو لرونکی دوست، ملګري او آشنا له لاسه ورکړي نو دا متل وايي چې: «دا یا هغه خو د ګورت سپینتي وه.»

١٧ـ یوه نجلۍ وه کله یې چې مېړه وکړ، پس له څه مودې یې هسې مېړه مړ شو، ښځه په پېغلتوب کې کونډه شوه مېړه یې ورور درلود نو دغه ښځه د خپل لېوره په تمه کښېناسته چې ما به وکړي. ډېر وخت تېر شو لېوره یې ونه کړه په آخر کې دغه ښځه هم زړه شوه او مېړه یې ونه کړ. د دې واقعې نه وروسته خلکو به دا متل وایه او اوس یې هم وايي چې: «کونډه د لېوره په تمه کښېناسته د بله مېړه هم ووته یا، کونډه د لېوره په تمه له بل مېړه پاتې شوه».

١٨ـ په ځینو لویو کورنیو کلیو او قومونو کې هر څوک یو مشر لري چې هغه مشر د خپلې کورنۍ، کلي او قوم ټول بهرني کارونه کوي که ګټه یې ورته راوړه که تاوان، دوی یې په ډېره خوشحالۍ سره

دخپل مشرد پاره داخبره د متل په شکل کوي چې «ستا غږ دی زموږ ننګ»
یعنې هرڅه چې ته وایې منویې که ګټه دې وکړه او که تاوان قبلوو یې.
۱۹-دشلو او دیرشو کلو خبره ده، چې په کلي کې یوه بوه ښځه وه او دا ښځه
دخپلو لیوروڼو، تربورانو او ځینو نورو خلکو څخه دیره زیاته په تکلیف
وه او همیشه به یې آزارو له ددې ښځې میړه هم مړ و او خپله د ښځې نوم
بدګې وه، او دیر سخت تریخ ژوندیې تیر اوه. په آخر کې دزیات
تکلیف او مشکلاتو له لاسه د بوچا سره راغله او دومره نیکمرغه ژوند
یې پیدا کړ چې اکثرو خلکو ددې مرستو ته احتیاج درلود، نو همیشه
به داخبره کیده چې «بدګې یې وررو له په ګبینه یې وارو له» داخبره
او س د هغې سیمې په ټولو خلکو کې نشر شوې او په لازم وخت کې
یې د متل په شکل وایې.

• • •

۲۰ ـ ددوو تنو سره ملګرتیا وه چې یو یې دیر غریب او بل یې دیر
شتمن و، غریب به همیشه دشتمن ملګري کورته ورته چای او دودی
به یې تل ورباندې خوره. شتمن ملګري به نورې مرستې هم ورسره
کولې. لنده دا چې شتمن سړی چې څومره مرستې د غریب سړي سره
کړې وې او هر څومره چای اودودی یې چې ور کړې وه، او بیا به یې
ورکول نو ټول به یې ورپسې لیکل. غریب سړي چې دا حال ولیده
چې هرڅه یې په ما پسې لیکلي نو دیر ترې خفه شو او شتمن ته یې وویل:
چې زه نور ستا کورته نه راځم او نه ستا کوم شی اخلم، ته چې په

ملگرتیاکی په ماپسی هرشی‌لیکی ، نوزه به په کوموستړگو درته‌راشم
شتمن ورته وویل: چی زه دغه شیان ددې له پاره نه لیکم چی ستا یی
له تا نه وغوارم، اویایی درته پیغور کړم، زما مقصددادی که ستا زه
خوارشم اوباکوم مشکل سره مخامخ‌شم نوته به ماپریږدې اوداسی
امکان هم لري ، چی په‌دیرلږشی ماخفه کړی‌اوخپله ملگرتیا به‌راسره
وشلوی او ددې له پاره یی لیکم چی دا معلومات راته وي«چی‌ماته
ستا دوستی په څومره تمامیږي» یعنی ستا به‌ما په‌دیرلږ شی بدل کړې.
دې خبرې اوس د متل بڼه غوره کړې اوځینی کسان‌چی په‌دې دول
ملگرتیا اودوستی سره لري‌نود ستا ورځی د معلوماتوله پاره دغه
شیان لیکی چی ده ته د هغه سره دوستی په څومره تمامیږي .

نکلونه

افسانه او نکل دپښتو دشفاهي ادب يوه خوله دوره برخه ده . دغه مهمه اودلچسپه ملي پانګه له ډېرې پخوا زماني څخه دخلکو په سينو کې پرته او دپير بو په اوږدو کې يې له يوه نسل نه بل ته انتقال موندلی او په شفاهي دول خپره شوې ده . په نکلونو کې دمحلي قهرمانانو کار نامې او کله کله ډېر جذاب عشقي مسائل او کله هم ډېر خرافي او وهمي خبرې بيان شوي وي. له دې نکلونو څخه دجامعي ټول ذهني شرايط، روحي کره وره، او اجتماعي روابط ډېر ښه معلومېږي، اود ملتونو داجتماعي تاريخ په ليکنه کې دډېرو مهمو موادو په توګه استفاده ترې کيداى شي . معاصر تاريخ پوهان په دې عقيده دي چې د دغو نکلونو لــه موادو څخه دتــولنو داجتماعي روابطو دتاريخي سير په څرګندونه کې ډېره ګټه اخيستل کيږي . دنکــلونو تاريخ ډېر لرغوني دي اود نن ورځي محصــول نه دي بلکه په ډيــر کالونــه ور باندې تير شوي چې ترنن ورځې پورې رارسيدلي دي .

نکــلونه عموماً دوه ډوله دي يو هغه نکلونه دي چې خاص دماشومانو لــه پاره ويل کيږي، او دوی په حافظو کې ضبط کيږي، دوهم يې

هغه نکلونه دي چې دلویانو له پاره په حجرو او دېرو او نورو ځایو کې ویل کیږی. په نکلونو کې دځینو خبرو راوړل، او دځینو خاصو مهارتونو کارول دنکلو په جذابیت، مؤثریت او په حافظو ساتلو کې ډیر زیاب اهمیت لري اوهغه داچې نکلچي په خپل نکل کې ډیره زیاته مبالغه اودروغ راوړي. دروغ اومبالغه هم په داسې ډول یعنې هغه کارونه چې دیوه انسان له قدرته پوره نه وي او پریانو حیواناتو او نورو واهلي شیانو په واسطه انسان دومره قدرت په لاس راوړي چې هرڅه کولای شي او یا یو انسان له داسې چالونو، کارونو اوهنرونو څخه کار واخلي چې داستان له قدرته بې تصور نه شي کیداي، بلاخره یا په خپل هدف کې کامران کیږي او یا ککړي خوري .

نکلونه دپښتنو په هره سیمه کې شته، او ویل کیږي. یو نکل چې په یوه سیمه کې وي په بله سیمه کې هم په خپله اصلي بڼه او یا په لږتو پیرسره وجود لري، او له دې کبله داویلای شو چې هر نکل چې په کومه سیمه کې پیدا شوی وي او ویل کیږي دټولو پښتنو شریک مال ګڼل کیږي نه دیوې سیمې. پښتو نکلونه زیاتره دنکل په منځ کې ځینې نظمونه هم لري چې خلک یې ناري بولي. دغه ناري په داستان کې دمشخصو کرکترونو له خوا ویلې کیږي، دغــه ناري د نکل په جذابیت او مؤثریت کې زیاته اغیزه لري. دپښتو نکلونو په شهرت اوجذابیت اکثرو واقعه نګارانو څخه لیکلي دي. ددوی له ډلې څخه الفنستون او راورتــي دآدم خان او درخانۍ د داستان په بــرخه کــې خبــرې

لري(۱) په معاصرو مستشرقينو کې استاد اسلانوف (۱۹۷۷ع کال مړ) دپښتو ټکلو په ارزښت خبري کړيدي. زموږ دغه ملي پانګه په ټولو پښتني سيمو کې پيدا کيږي، او ټولو لوته يې زموږ دخلکو داجتماعي روابطو او تړلتيز و څرګندونو په خاطر ډير ضرورت ليدل کيږي زموږ د فولکوريستانو له جملې څخه چې پدې برخه کې يې کار کړي لومړي سړي مرحوم محمدګل نوري (۱۳۵۲ ش مړ) دی، چې پښتو ټکلو نه يې د خلکو له خولو راټول او په خپل اصلي شکل يې دځينو نارو سره يوځای دملي هينداري په دري وارو ټوکونو کې خوندي کړي دي (۲) ښاغلي سيد عابد شاه عابد هم داولسي ټکلونو په نامه هم يوه وړه مجموعه په کوټه کې خپره کړي ده (۳) او پروفيسر سيال کاکړ د «پښتو ټکلو نه» په نامه يوه مجموعه تياره کړي

(1) Acant of kingdome of kabal ’ p . 244 , London ’ 1839

۲- د ملي هينداري په لومړي ټوک کې: دفتح خان کندهاري، ښادی اوبيبو، مومن خان او شرينو، جلات خان اوشمه يلي، مرد نا مرد، زبزباني ښاپيرۍ، موسی جان اوګل مکۍ ټکلونه راغلي دي. دغه ټکلونه لومړی په کابل مجله کې بيا په ۱۳۱۶ ش کال کې ديوې مجموعې په توګه (۱۷۰ مخه) پښتو ټولنې خپاره کړې دي. په دوهم ټوک کې يې د طالب جان ظريف خان، خشکيار، قطب خان، آدم خان، قلندرجان اوميرا جان ټکلونه راغلي. دغه مجموعه هم په ۱۳۲۵ ش کال کې (۸۲ مخه) پښتو ټولنې چاپ کړيده. په دريم ټوک کې يې چې په ۱۳۵۲ ش کال دکندهار د اطلاعاتو اوکلتور آمريت له خوا د طلوع افغان په مطبعه کې (۲۰۲) مخه چاپ شوی، ځيني نور ټکلونه راوړل شوي دي. د لومړي او دوهم ټوک ټکلونه په يوه ټوک کې څوځله د پيښور دکتابو د تاجرانو له خوا خپاره شويدي.

۳- په اولسي ټکلونو کې د ژرند باز پاچا، چندن لالا، دخراسان پاچا، ژړه غوا، نيکي او بدي، ملا تنتر، دري حافظان، تور ديب (اونور ټکلونه راغلي دي مخونه يې (۱۵۵) اوپه ۱۹۷۲ع کال په کوټه کې چاپ شويدي.

چي تراوسه چاپ شوی نده (٤) ښایي دهیواد په خپرو نو کي هم ځیني نکلو نه په متفرق شکل چاپ شوی وی. په‌دغه ډول‌خاطر غزنوی هم‌د «سرحد کي‌رومان» تر سر لیک لاندې دپښتو ځیني کیسي‌راټولي کړي‌دي (٥) همدار نګه صاحبز اده‌حمیدالله په خپل‌اتر «پښتو کي‌رومان» کي دملي هینداری دځینو نکلونو لنډیز په اردوژبه وړ اندي کړي‌دي. دغه اثر په ۸۰ مخونو کي چاپ شوی‌دی ماهم په خپله سیمه کي ځیني دغه‌ډول‌نکلونه‌راټول کړي‌چي لاندي‌يي وړاندي کوم:

نازو او جندو

يو خان‌و چي ډير زياتي پيسي‌بي‌ار لـي اوښه‌مو ړو .هيڅ شي ته‌يي احتياج نه‌در لود. دده يوه‌لوروه چي نازو نو میده او ښایست یـ‌ی په ټول اولس کي‌ساری نه‌درلود. ددی‌دګوتي‌نوك به‌خلكو په سل‌روپۍ ليدلو

٤ـ « پښتو نکلونو په مجموعه کي پروفیسر سیال کاکړ ترلسو زیات نکلونه له یـوی جامعي مقدمي سره راوړي‌دي. دغه نکلونه تراوسه ندي چاپ اود مسودي په حال کي دی.

٥ـ سرحدکي رومان په اردو ژبه لیکل شوی اودغه لا ندی نکلونه: (میموني، توردلـی شهی، آدم خان درخانی، فتح‌خان رابیا، جلات محبوبه، موسی‌خان ګلمکۍ، ښادی ببیو ظریف خان، نیمبولا اوتیمبولا، بهرام اوګل‌اندام، قطب خان نازو، یکه یوسف‌خان، شیر بانو مومن خان شیرینو، ولی جان تانو، سیف‌الملوك بدیع الجمال، مریم، عظیم‌خان، نعمان ـ صاحبزادګۍ، اسلام بـی‌بـی په کی راغلی، دغه کتاب (۱۷۲) مخه په ۱۹۶۵ ع کال په پیښورکي چاپ شویدی.

دغه رنګه صاحبزاده حمیدا لله په یو ه وره مجموعه کی چی « پښتوکی رومان » نومیږی اردو ژبوته‌د دغو لا ندی پښتني نکلونو یوه لنډیز وړاندی کړی دی: ښـادی اوبیبو موسی‌خان اوګلمکۍ، مومن خان اوشیرینو، جلا‌ت خان اوشمایله، طالب جان اوګلبشـره ظریف خان اوماـبـۍ، خشکیار اوشاترینه، قطب‌خان اونازو، دلی او شهو، آدم‌خان او درخانۍ (دغه مجموعه ۸۰ مخه په ۱۹۷۰ ع کال په بلوچستان کی خپره شویده)

او مخ به یې چاپه دیرو روپیو نه شو لیدای. ددوی یو شپون وچې جندو نو میده او هغه هم دیره دنګه او ښکلی ځوانی لراه او هم یې دو مره ښه شپیلی وهله چې په هغه سیمه کی دده په شان چا نشو وهلای. یوه ورځ په کور کی شوك نه وچې جندو ته دودی وروړی ناز و خپلی مورته ورغله او ورته یې وویل: چې نن به زه جندو ته دودی وروړم، مور یې ورته وویل چې ته ځنګه یوه شپون ته دودی وروړی، ستا یو نوك په سل روپۍ خلك ګوری ته بیا شپون ته دودی وروړی. نازو د مور نه پټه دودی واخیسته او جندو ته یې ورووړه. موریې چې خبره شوه نو دیره خفه شوه کله یې چې پلار راغی دنازو پوښتنه یې وکړه دنازو مور مجبوره شوه چې حال ورته ووایی. کله چې یې حال ورته ووایه او پلار یې خبر شو نو دخپلو نوکرانو سره یو ځای په نازو پسې ووتل که ګوری چې نازو او جندو یو ځای سره ناست دی نو پلار یې دیر خفه شو نازو او جندو چې یو د بله سره مین شوی وو نو کله چې نازو خپل پلار د نوکرانو سره ولید او جندو ته یې هم وویل چې پلار می رانــږدی شو دواړه دیر زیات وارخطا شول په دغه وخت کی جندو دغم شپیلی شروع کړه او نازو هم دشپیلی سره دغم سندره داسی وویله:

جند و ښه وهه شپیلی

نـازو او اوس راغلی دتیر یو سری دیلی

نازو خوواره داسندره ورته تکرار کړه اخر جندو په نازو باندی

غزوکرچی هله پلاردی نور رارسیږی راځه چی تری و تښتو نازوهم ورسره ومنله دواړه وتښتیدل یوه کلی ته یی پناه یوړه پلار او نور نوکران یی هم ور پسی ورغلل .

د کلی خلك نازو اوجندوته ورغلل او ورته یی ویل چی پلار دی وایی چی راو یی باسه ! څنګه وکړو ؟ جندو ورته وویل چی دغرمی ډوډی دی وخوړو بیا به ورشو . دوی هم دغسی ورته وویل : د نازو پلار ورته وویل : چی ډیره ښه ده کله چی نازو او جندو دغرمی ډوډی وخوړه ، بیا د نازو پلار ورته وویل چی اوس یی نوراوباسه دکلی خلك بیا نازو او جند وته ورغلل او ورته یی وویل ، چی غواړي مو ! دوی ورته وویل چی دماسپښین چای دی وچښو ، بیا به ور شو کله چی دماسپښین چای یی وچښه ، نو دوی دواړه یی ورته را و ـ تل او دهری خوا نه و رباندی ډېرو ګذارونه وشول ، په آخر کی یی یوی کندی ته کش کړل ، په دوی کی لږه سا چلیده چی په دی کی یوه ګیدړه ور باندی روزدی شوه ، لږلږ به یی څټل بالاخره ښه شول آخر کلی ته ورغلل ، بیا یی همغه سندره وکړه مور یی وویل : لکه چی نازوی مګر نور و خلکو به ویل چی نه دوی به اوس مړه وی ، څو واره چی یی سندره وکړه مور یی پوه شوه چی نازواوجندودي ، کورته یی راوستل سره واده یی کړل او یوه نوی ژوند ته سره ګډشول .

سره اوزه

يوه سري يوزوي درلود ، او يوه‌يي لوروه. دغې جلۍ له خپل ورورسره ډير زيات مهر او شفقت درلود ، جلۍ دهلك څخه لږڅه لويه‌وه. دوی يوه سره اوزه هم لرله وهره‌ورځ به‌دغه هلك‌د خرولود پاره صحراته بيوله . يوه ورځ ناڅاپي ليوه راپيدا شو اوهلك ته‌يي وويل چې تا وخورم که سره اوزه ده ؟ ورته‌وويل : چې‌زه دې په کورکې‌پوښتنه وکړم چې‌ماوخوري اوکه زما اوزه! کله‌چې کورته‌راغی‌نوخپلې ميرې (ناسکه‌مور) ته يې وويل ،چې دغسې يوه ليوه رابانديې پيښ‌شوی‌دی اورا ته وايي چې تاوخورم که‌ستا اوزه‌اوس نوته ووايه چې ماوخوري‌او که‌اوزه ميرې‌يې‌ورته‌وويل :چې تادې وخوري موږ تاڅه‌کوو اوزه‌خوشيدې راته کوي، ميره يې پردی‌مور وه هيڅ‌زړه يې نه‌وربانديې‌سوزيده. وروسته له‌هغه دغه هلك لاړ اوخپل پلارته يې د ليوه خبره وکړه

پلار يې‌چې دخپلې ښځې خبرې‌او ريدلې‌وې‌نودهغې له‌دا ره يې خپل‌زوی ته‌وويل چې‌تادې‌وخوري‌پس له‌هغه‌هلك ډير په‌خفه زړه خپلې مشرې‌خور ته ورغی،هغې ته‌يې هم‌دليوه‌داستان ووايه اوهم يې

دا خبره ورته وکړه چې پلار او مېرې دواړو راته وويل چې تا دې وخوري ، اوس وارسېدلې چې ته څه راته وايې چې ما وخوري او که اوزه خو رخوريې ورته وويل : چې تا ولې وخوري اوزه خو به بله هم پيدا کړم بل وروربه له کومه کړو؟ لاړ شه اوزه دې وخوري! دی هم خوشحال شو چې خوريې منفي ځواب ور نه کړ ، مګر کله به چې دمېرې او خپل پلار خبرې وروپه ياد شوې ډېر به غمګين شو ، د خپلې خور خبره يې ومنله او لاړ ليوه ته يې وويل چې اوزه دې څه کړه ده ورته وويل چې اوزه خو ليوه وخوړه مور يې ورته وويل چې ولې ما نه ژ در ته ويلې ، چې تا دې وخورې ! ده ورته وويل چې خير دې اوره به بله هم پيدا کړو زه خو بيا نه پيدا کيږم مېرې ورته وويل چې اوس به د اوزې په عوض تا حلال کړو خپل مېړه ته يې غږو کړ چې هله چاړه راوړه چې دا بد مرغه حلال کړو پلاريې هم له مجبوريته چاړه راوړه او هلک يې حلال ، ما زيګر ته يې دهلک غوښه خلکو ته ويش کړه خوريې هيڅ ورباندې نه وه خبره چې زما ورور يې حلال کړی دئ کله چې دخپل ورور غوښه وروړه نو دې فکرو کړ چې دا به دې اوزې غوښه وی خوريې کالي مينځل او دخپل ورور غوښه يې دکوزې په سرباندې کېښو دله ، او غوښه کوزې ته ور وغورزېده دجلې بيا هيڅ فکر نه شو چې غوښه کوزې ته ور غورزيدلې ده ، له ياده يې وو ته کوزه يې د بام په سر کېښو ده کله چې د کوزې اوبه و چې شوې نو په الهی قدرت سره دا غوښه مرغه شو ، او هره ورځ به دخلکو حجرو

اوديروته ورته اوداسندره به يې ويله :

تيله مرغی تيله يوه مې موروه
يومې پلار رو پلار ورته نيولم
مور حلالولم يوه مې سورکې خوروه
په يوه کوزه کې يې سا تلم
تيله مرغی تيله مرغی تيله

کله چې مرغه داسندره وکړه، نوخلکو ته به يې د يرزيات خوندورکاوه اودغه مرغه ته به يې دانې ورکولې. يوه ورځ دې خپل کورته ورغی اوداسندره يې بيا وکړه:

تيله مرغی تيله يوه مې موروه
يومې پلار رو پلار ورته نيولم
مور حلالولم يوه مې سورکې خوروه
په سره کوزه کې يې سا تلم
تيله مرغی تيله مرغی تيله

کله چې مرغه داسندره وکړه ميرې او پلاريې دکانې وار ور باندې وکړ، دی هم والوته! مرغه به چې څومره پيسې پيداکولې په هغوباندې به يې ميوې اوشيرينی کولې بيا به يې کورته راوړې او خپلې خورته به يې له هوانه وراچولې دده خور پوهيده چې دا زما وروردی اوهغه توته غوښه چې کوزې ته وروالويدلې وه، دخدای په قدرت سره مرغه شو. خور به يې هره ورځ ژړل خوچاره نه وه.

کله به چی ددې ورور (مرغه) راغی نو خوربه یې همیشه دانــې او نورشیان ور کول. ده به هم له باغوڅخه میوې ورته راوړې یوه ورځ یې میوې او پلار مرغه ته ویل چې موږ ته هم میوه راوړه یو څه موده یې خپل پلار ته او میرې ته میوې او پیسې او نــورشیان راوړل او د خپل پلاراومیرې اعتبار یــې ښه پوخ شویوه ورځ یــې دمیوې پــه منځ کې زهر کیښودل بیایې ورته راوړه کله چې میرې او پــلار یــې په زهرو ککړه میوه وخوړه نو دواړه مړه شول . مرغــه هم دخدای په قدرت سره هماغه هلــک شو او دخپلې خورسره یــې نیکمرغه ژوند تیراوه .

داداني او منگراني

داداني ديوې كوڼدې ډېرساده او بې عقله ښځه وه چې چا به څه
خبره ورته وكړه نوداداني به بې له كوم فكراوچرت څخه منله. كله
چې لوی شونوموريې ورته وويل چې: داداني زه ميړه كوم خو ته
نن ورځ له كوره ووزه، هرشی چې په مخه درغی كورته يې راولـه
هغه زماميړه دی كه سړی وی كه لېوه وی كه سپی وی كه منګوروي
اوكه هرشی وي خوچې په لومړي وارهغه په لاره د رشي نو حتماً
به يې كورته راولی هغه، چې داداني ته په لومړی ځل منګورپـه
مخه ورغی .داداني منګورته وويل چې : منګوره ماته خپلی مـور
ويلی دي چې نن ورځ هرشی چې په لومړی وارپه مخه درشی كورته
به يې راولی اوهغه زماميړه دی تـه نوزماسره كورتــه لاړشه! هغه
وچې منګورد داداني سره كورته ولاړ بس نومنګورد داداني د مـور
ميړه شو.شپې ورځې كلونه اووختونه تېريدل داداني د مورڅخه د
منګورپوزوی پيداشوچې نوم يې منګرانـی وربـاندی كيښود .
منګراني چې لږلوی شونو ډېر هوښياراوچالاك واوداداني چې ډېـر
كم عقله اوساده وه د منګراني ورسره زياته مينه اومحبت واو ډېـر

زیات نو ربانډې ګران و .

یوه ورځ دداداني اومنګراني مور اومنګور سره مصلحت او مشوره وکړه چې داداني به مړ کړوهغه وچې یوه ورځ مور یې داداني ته وویل چې ته غره ته لاړشه اولرګی راوړه دداداني مور خپل میړه (منګورته وویل چې کله چې د غره څخه داداني راغی نو دیرزیات به وزې شوی وی ته به دخاوروکوزې ته ځان ورواچوې چې وریجې پکې دی اووبه یې چیچې او زه به داداني ته وایم چې دودی خونه ده پاتی ورشه دهغه کوزې څخه وریجې راواخله هغه وخوره هغه و چې منګور کوزې ته ځان ورواچولو کله چې داداني دغره نه راغی او مورته یې وویل چې مورې زه دیرزوی شوی یم لږه دودی خوراکړه موریې ورته وویل چې دودیخونه ده پاتی ورشه دهغی کوزې نه وریجې دراواخله منګراني چې دیرهوښیارا او په ټولوخبرو پوه وکله چې داداني کوزې ته ورنږدې شوسم دلاسه یې منګراني لاس ونیواوداداني ته یې وویل چې که ته وریجې راواخلې زه یې درته راخلم هغه وه چې منګراني وریجې ورته راواخیستې اوداداني یې دخپل پلار اومور دمرګ له پنجو څخه خلاص کړبل ځل بیاښځی اومیړه مصلحت سره وکړ کله چې داداني دغره څخه لرګی راوړي نو ته به دهغه پله لاندې کښیني چې دی ور باندې راځي کله چې داداني دغه پله باندې تیریږې په پښه باندې به یې وچیچې ، کله چې بله ورځ داداني غره

ته ولاړه او لرګی یې راوړل او دپاره تیار کړل نو یې دلرګیو پیتی په
شاکړ او د کور په خوا روان شو تر نیمایی لارې منګرانی هم وروړ
رسیده کله چې دادانی پله ته نژدې شو منګور هم غلی د پـه لاندې ور ته
ناست و منګرانې بیاهم په تولو خبر رخبرۍ دادانی ته یې وویل چې په
او بو باندې ګـډشه په پله باندې مه ځه دادانې منګرانی ته ډیر سوالونه
اوزاری وکړې چې وروره ډیر ستړی یم په پله باندې به ولاړ شم
په او بو باندې نه شم ګډیدای مګر منګرانی دادانی مجبور کړ چې په او بو
باندې ګډشی او په پله باندې لاړ نه شی هغه وچې دادانی په او بو باندې
ګډشو او دواړه کور ته راغلل، او په دې واریې بیادادنی له مرګه څخه
خلاص کړ. بیابنځې اومیره سره وویل کله چې دادانی غره ته لاړ شی
او لرګی کوي کله چې دوړلو دپاره تیار وي نو ته به دلرګیو په مینځ کې
ننوزې کوم وخت چې لرګی په شاکړې او راروان شی نو ته به یې
په شا باندې وچیچې. هغه وچې په یوه لار باندې دادانی غره ته لاړ
او په بله لار باندې یې پلار شاته ورپسی ورغی کله چې دادانی لرګی
دوړلو دپاره جوړ کړل نو په دې وخت کې منګرانی هم وروړسید منګور
غلی دلرګیو په منځ کې ننووت. منګرانی چې په چالونو باندې پوه و
دځان سره یې داور قطی هم راوړې وه کله چې دادانی تول لرګی
په رسی وتړل او دوړلو دپاره تیار شول نو دلته منګرانی داور تیلۍ ورته
وواهه او لرګیو ته یې اور ورکړ، دادانی ناری کړې چې اې وروره یې
سوزوه ډیره سخته خواري می ور باندې کړیده مګر منګرانی یې خبره

ونه منله منګوریې د لرګیو په منځ کې وسوزاوه او دواړه کورته راغلل.
وروسته له هغه منګرانی خپل وروړ داداني ته وویل په هغه ورځ چې
تا د کوزې څخه وریجې اخیستې او ما ته پرینښودې چې راوایې خلې
هلته زما پلار په کوزه کې درته پټ شوی و او ته یې چیچلې. په هغه
بله ورځ چې ما ته په پله باندې نه پرینښودې، او په اوبو مې ګډ کړې
هلته هم زما پلار په پله کې درته پټ شوی و، هلته مې هم ده له چیچلو
څخه خلاص کړې، او نن ورځ مې چې لرګي وسوزول هلته هم دی د
لرګیو په منځ کې ؤ ته یې چیچلې او دې په عوض چې تا مړ کړي خپل
ژوندیې دخاورو اوایرو سره ګډ کړ. کله چې منګور مړ شو هغه یې
رااخیست او په یوه ونه کې یې ځوړند کړ دلاندې یې یو لوښی ور ته کیښود
ټول زهر یې چې توی شول هغه یې کورته راوړل، او منګراني خپل وروړ
داداني ته وویل چې اوس راځه چې خپله مور مړه کړو، داداني هم ور
سره ومنله، کورته چې راغلل که ګوري چې مور یې وریجې پخې کړې دي.
منګراني داداني ته وویل چې: ګوره چې څه شی ونه خورې مور ته
به وایې چې موږ ډوډۍ خوړلې ده. مور یې د خپل میړه ډیر انتظار
وویوست لاکن میړه یې رانه غی وروسته له هغه یې ډوډۍ تیاره کړه
او ورته یې وویل چې: پلار مو رانه غی، راځئ چې ډوډۍ وخورو دواړو
خپلې مور ته وویل چې موږ ډوډۍ خوړلې ده، ډیر ماړه یو، نه یې خوړ او
ته یې وخوره. مور یې هم دومره ډوډۍ واچوله چې خوړای یې شوه
وروسته له هغه منګراني د خپل پلار زهر په داسې وخت کې په ډوډۍ

باندې واچول چې د مور يې هيڅ پام نه وکله چې مور يې دودې وخوره وضعيت يې بدل شو، دوې دواړه قرار شملاستل. سبا ته چې راپا څيدل مور يې مړه شوې وه هغه وچې منګراني خپل مور او پلار د دا داني محبوبيت ته وقف کړل. کله چې مور يې خاوروته وسپارله وروسته له څو ورځو دواړه په خواري او غريبۍ پسې بل وطن ته ولاړل، منګراني داداني ته وويل چې: ته هم چيرې مزدوري پيدا کړه او زه به يې هم چيرې ولټوم. هغه وچې دواړه د مزدورۍ په پيدا کولو پسې روان شول داداني چې ډيرساده او بې عقله سړې و په يوه کلي کې ديوه داسې سړي سره چې ډيرې ځمکې پڼسې او د ميزورمې بې درلودې مزدور شو، لاکن سړي داداني سره څو شرطونه کيښودل .

لومړی سړي ورته وويل چې دوچې دودۍ ځملۍ بايد ماتې نه شې دوهم داچې او به د مشك له خولې څخه نه څښې دريم شرط دادی چې هره شپه به يو خريز غوښه راوړې نوږ هر څو مره پيسې چې غواړې درکوم يې . که چيرې له دې شرطو څخه پښيمانه شوی نه به دې مزدوري درکوم او هم به دې غوږ او پزه پرې کوم او که چيرې زه پښيمانه شوم نو زما غوږ او پزه به پرې کوې .

داداني دا خبره ورسره ومنله، مګر کله يې چې دوې ورځې کار وکړ نو پښيمان شو ځکه وچه دودۍ يې چې د ځنډو دلورې نه خوړلې نه وای بله چاره يې نه درلوده او د ځنډو له خوا خوړل په ده باندې بندو او به يې هم د مشك له خولې څخه نه شوی څښلی بل چل يې يادنه و

په دریم شرط کې هم پاتې شو او یو خر یزغو ښه یې هره ورځ نه شوه پیدا کولای، بس نو مجبور شو سړي ته یې غوزاو پزه وروپیول سړي هم په چاقو تری پرې کړل. دسړي څخه راغی مزدوری یې هم ونکړه، غوږ او پزه یې هم لاړل وروسته له هغه داداني منګراني ته ورغی، مخ یې په لنګۍ باندې تړلی و، منګراني پوښتنه تری وکړه چې وروره څه چل دی؟ داداني ورته وویل چې ما خو غوږ او پزه دواړه ور بایلل.

نکل یې ټول ورته تیر کړ، منګراني ورته وویل تر څو چې ستا غوږ او پزه ونه ګټم دومره به زه رانشم دواړه سره روان شول، دسړي کلي ته ورسیدل. داداني ته یې وویل چې ته په کم ځای کې شپه وکړه منګراني چې کلي ته ورغی دسړي پوښتنه یې وکړه سړي یې پیدا کړ او ورته یې وویل، چې وروره مزدور نه نیسې، هغه ورته وویل چې ولې نه راځه لاکن زما مزدوری شرطونه لري، که چیرې هغه شرطونه دې په ځای کړل خو مزدوري به را سره کوې زه به پیسې درکوم که چیرې پښیمان شوې پیسې به دې هم نه وي غوږ او پزه به دې هم پرې کوم، که چیرې پښیمان شوم نو زما غوږ او پزه به پرې کوې. منګراني داخبره په ډیره خوښۍ سره ومنله او پوښتنه یې تری وکړه چې شرطونه دې څه ډول، دې سړي ورته وویل چې اومړی شرط داسې دی چې دوچې ډوډۍ خښلی به نه ماتوې نور یې دهرلوري چې خوري درته اجازه ده، دوهم شرط دادی چې او به به دمشك له خولې څخه نه څښې، دریم شرط دادی چې هره ورځ به یو خر یزغو ښه راوړی منګراني

دشرطوله مئلوو روسته په خپله مزدوري بساندی پیل و کړو . ډوډۍ
به یې دیوی په ځای دوی غوښتی ځنډی به یې نه ماتولی د منځ لـه
خوابه یې ماتولی اوبه به یې دمشلك له خولی څخه نه څښلی او پــه
بیخ کی به یې په چاقوسوری کړاوبه به یې تری څښلی.نوربه یې مشلك
(ژی) په ځمکه باندی و اچاوه غوښه به یې دده له میزو او غواښخه
پیداکوله ، هره ورځ به یې یاغوااو یامیږه ورته حلالوله په ورځ کی
به یې څلور یا پنځه وچی ډوډۍ اووه یا اته مشکونه یوه یا دوی غوار
وی.سړي ته تاوان ورکاوه. سړي دمنګرانی څخه ډیر په عذاب شو بله ورځ
سړي ورته وویل چی منګرانی بیګاته بابدیو خرواروزدن و کړی. منګرانی
هم په ځمکه کی یو ځای و کیندلو او تول زدن یی ورتوی کړل بیا یی
خدکوته وویل چی له دغه ځای څخه زدن وړئ .سړي ډیر په عذاب
شو بله ورځ یی ورته وویل چی منګرانی زمامور ناروغه ده ، زه چیری
ځم ته زمادمور څخه مچان شړه چی په تکلیف یی نه کړی .سړي چی لاړ
دمور په مخ باندې یې مچ کښیناست منګرانی په یوه تیږه باندی دسړي مور
په مخ باندی و ویشته مړه یی کړه.سړي چی راغی پوښتنه یی تری و کړه
چی زمامور څنګه ده؟ ده ورته وویل :چی مور دې مړه شوه دمور په
مخ باندی دې مچ کښیناست ماپه مچ باندی دتیږی ګـذار و کړهغه
می مړ کولو مچ اومور دی دواړه مړه شول.سړي ډیر پـه عذاب شو
منګرانی ورته وویل چی که پښیمان وی نو غوږ پزه دی راو نیسه چی
پری یی کړم،بله ورځ دسړي کوچنی لورته معذرت پیداشو سړي ورته

وویل چې منګرانی جلی معذرت ته بوزه، منګرانی دسړي اور معذرت ته بو تله هلته یې په جلی پسې چاقو ویوست چې ګوره معذرت ونه کړی او که دی وکړ په چاقو دی وهم. جلی د ډیری ویری هیڅ شی ونه کړه بیر ته راغله دوهم واربیا جلی وژړل چې ماته متیازی راغلی. دی سړي بیا به منګرانی باندی غږوکړ چې هله جلی دباندی وباسه منګرانی دری واره داعمل کرار کړ په څلورم ځل بیا جلی وژړل سړي په قهرشو منګرانی ته وویل چې ښه یې تشه کړه چې بیا ونه ژاړی. منګرانی چې دا خبره واوریده په منډه سره یې دسړي لورد باندی وایستله او هلته یې دسړي دلور ګیډه په چاقو باندی څیری کړه سړي ته یې لورمړه راوړه او ور ته یې وویل چې صاحب ګیډه می په چاقو ور باندی څیری کړه د متیازو شخه می ښه پاکه کړه بیا به نه ژاړی او نه به معذرت ته ورځی، سړي چې لور وليده نودیر خفه شو منګرانی ورته وویل چې که پښیمان وی نوغوږ پزه راونیسه چې پری یې کړم.

سړي چې دا حال ولید نوفکر یې وکړ چې لور خو مړه شوه مور می مړه شوه. غواوی غوایی میږی او نور هر څه می چې لرل ټول خاوری شول په غاو باندی می خلکو مزی وکړی زمادارایی او هستی یې ټوله تباه کړ، نواوس باید زه او ښځه می له دی کوره ووځو.
او د منګرانی له شر څخه ځانونه خلاص کړو، وروسته له هغه یې ښځی ته وویل: چې په غوریو کی دوه دی پخی کړه، چې ترې لاړشو، او کور

منکرانی ته پریږدو. ښځی یې په غوږ یو کې دودې پخې کړې او د پوزی
لوښی ته یې واچولې، ښځی یې چی لږې دودی د پوزې لوښی ته واچولی
منکرانی هم ورننووت نورې دودی یې هم ورواچولی سړي او ښځی یې
منکرانی نه ولیدلی چی د پوزی لوښی ته ورننوتلی دی او مخکی تردی
سړي منکرانی ته ویلی وه، چی ته په کورکی پاتی شه، موږ نن د خپلوانو
کره واده ته ځو، مګر منکرانی پوه شوی وه ښځه او میړه سهار دواړه
وختی روان شول توله ورځ یې مزل وکړ، دیوه سیند پرغاړه ورباندې
شپه شوه د شپی سړي ښځی ته وویل چی ښه شوه چی اوس د منکرانـی
څخه خلاص شو، منکرانی دستی د پوزې له لوښی څخه راووت او ورته
یې وویل چی تاسی له ما څخه نه شئ خلاصیدای. دلته د سړي په زړه بیا
اوربل شو د شپی یې ښځی ته وویل، بیګاته چی خوبیږولی شی، سیند ته به
یې ورواچو کله چی شپه شوه توول سره څملاستل د سړی ښځی خپل کمیس
وکیښ از ځنه چی تیر شو منکرانی د سړي د ښځی کمیس واغوست کله چی
ښه شپه تیره شوه سړي ښځه وچیچله چی جګه شه چی منکرانی سیند ته
ورواچوو. منګرانی چی د سړي د ښځی کالی اغوستی وو ورجګ شو
د سړی ښځه خوبیږولی وه سړي دا فکر وکړ چی منکرانی خوبیږولی دی مګر
هسی نه وه سړي خپله ښځه د پښو او منکرانی د سر څخه ونیوله سیند ته
یې ورواچوله، په آخرکی منکرانی غږوورباندې وکړ چی ځنګه شړې
ښځه می سیند ته درباندې واچوله کنه، سړي چی پوه شو چی ښځه می سیند ته

وراچولي ده اومنګراني پاتې شو یـدی ډیر غمجن شواوویـې ژړل منګراني غزپه و کړچی که پښیمان وي غوزپزه راو نیسه چې پرې یې کړم سرې مجبورشوغوزپزه يې ورونیول منګراني په چاقو باندې ترې پرې کړل منګراني ورته وویل چې زمادورور (ډاډاني) غـوزاوپزه دومره آسان ووچې تاپرې کول، نورترې روان شو.ډاډانيتـه چـې ورسیدورته يې وویل چې وروره ستاغوزاوپزه می وګټل دغه دی دسري غوز اوپزه می دواړه راوړل .

څلور زرګان

یوه سړی درې زامن لرل، دی هم په خپله سپین ږیری و. دوی دومره غریبان وو چې په هیڅ ځای کی کار نه ورته پیدا کیده. د خپلی غریبۍ څخه ډیر په عذاب شول، نو دډوډۍ دپیدا کولو دپاره یې لارې لټولې. لومړی یې مصلحت سره وکړ او وې ویل چې کار نه پیدا کیږي او دډوډۍ څخه هم په تنګ شوو، نو راځئ چې په تګې باندې شروع وکړو، پلار یې مشوره ورکړه چې هر یو به د لارې په یو فاصله کې کښیږئ اوزه به د اخرین زوی سره یو ځای کښینم که چا غوراوسته دوزې به ورته وایو ترڅو چې یې ورڅخه په ارزانه بیه لاسته راوړو، هره یوه نخچل تا کلی ځای ته ځانونه ورسول. یوه سړی په ډیر لرې وطن کې غوا اخیستې وه پر لار رروان دی، د سپین ږیری دلومړی زوی ځای تــه چې ورسید، هغه غږ پرې وکړ، چې اې مسافره! دغه اوزه دې چېــرې روانه کړې، خر خو یې نه مسافر ورته وویل چې دغه اوزه نه ده غوا ده. له ډیر لرې وطن څخه مې راوستې ده، نه یې در باندې خرڅــوم مسافر یې په شلک کې واچاوه، ترې روان شو مسافر چې د سپین ږیری دبل زوی حد ته ورسید، هغه هم ورته وویل چې مسافره دغه اوزه دې

نه خرڅوی دهورته وویل چی اوزه نه ده، غواده، د ډیرلری وطن څخه می راوستلی ده او په ډیرو پیسو می اخیستـــی ده . دسپین زیری زوی ورته وویل چی په دی اوزه باندی یی غولولی یی دغواپه بیه یی در باندی خرڅه کړیده. ده ته یی هم ځراب ورکړ، چی نه یی درباندی خرڅوم تری روان شو مګر، چرت یی ډیر زیات خراب شو. کله چی مسافـر د سپین زیری اودزوی ځای تهورسیده هغوی هم دغه خبره ورتـه تکرار کړه مسافر فکروکړ، چی ربنتیادغه اوزه ده او زما په سترګـو غوار ځی.د غواپه بیه یی راباندی خرڅه کړیده دسپین زیری زوی ته یی وویل: راځه چی درباندی خرڅه یی کړم ، نوسمدلاسه سپین زیری ورته وویل : چی زه به یی درته بیه کړم، هغه وچی غوایی داوزی په قیمت بیه کړ. مسافرهم ورکړه پیسی یی مسافرته ورکړی هغه په خپله مخه لاړغوایی کورته راوسته، بله ورځ یی یوه بل سړی ته دغه چل برابر کړیوه سړی چی اوبن یی اخیستی ؤ پورتنی چل یی پری وکړ اواوبن یی دغواپه بیه تری واخیست دریم وارچی یوه بل سړی پسه اخیستی و دغه خبری یی بیاورته شروع کړی سړی چی داخبری واوریدی نو پسه یی دسپی په نوم خوشی کړ، هغه وچی ځلورو تهګانوله دی لاری نورخپله ګذاره شروع کړه .

چخلکی

چخلکی دیوی کونډی لمسی و. پلار او مور یې دواړه په کوچنیوالی کی مړه شوي وو. چخلکی، د کوچنیوالی څخه ډیر ساده او کم فکره و. د چخلکی، نیا ډیر کوشش کاوه، چی لمسی یې ژر لوی او ځوان شی ښه ښه خوراکونه به یې ورکول، نیا یې فکر کاوه چی لوی شی نو ساده والی او بی عقلی به یې هم ورکه شی. ځکه یوسړی چی ځوان مړه لوی او ځوانیږی، په همغه اندازه په خپلو کړو وړو اوښو او بدو ښه پوهیږی. مگر چخلکی چی ځوان مرد لوی یده هغو مرد به نور هم ساده او بی عقله کیده، خو اخر چخلکی، د خپلی نیا ډیرو زحمتونو او خوارو په برکت ځوان او لوی شو. د چخلکی نیا ډیره هوښیاره او باتجربه ښځه وه ځکه چی ډیر وخت یې په تکلیفونو کی تیر کړی ؤ. په هغه وخت کی ټولو خلکو به د کلی مشرته خان یا پادشاه وایه یوه ورځ د کلی د خان سپی د پیسو امیانی په خوله کی نیولی وه او د چخلکی د نیا پر خوا روان دی، او دلته د کونډی سره خپل لمسی (چخلکی) هم ناست دی سپی چی د چخلکی نیا ته را نژدی شو د چخلکی نیا ورباندی د کانړی وار وکړ، د سپی د خولی څخه د پیسو امیانی ولویده، هغه امیانی کونډی

راو اخیستنه او کور ته یې راوړه. دچخلکی نیا خپل لمسی ته وویل چې کوټې ته ننوزه ډېر سخت دشکرۍ باران او دباد طوفان دئ ته دکوټې دسورې (دریڅې) لاندې کښېنه زه به شکرۍ درتویوم او ته یې خوره چې دباد طوفان دې یو نسی حال دادی چې شین آسمان و نه دشکرې باران و او نه دباد طوفان. خو چخلکی چې ډېر ساده سړی و، اود خپلې نیا خبره یې ومنله کوټې ته ننووت، دسورې لاندې کښېناست نیایې لږه شکره راواخیسته او دکوټې د سورې نه یې لږه ور تویوله چخلکی به ورپسې ښتمله (خوړله) وروسته له څه وخته چې چخلکی ته شکره ورخلاصه شوه، او نیایې دپیسو امیانۍ په یوه پټ ځای کې کېښوده وروسته له هغه یې چخلکی ته غږو کړ چې راځه دشکرې باران او دباد طوفان تېر شول چخلکی هم دکوټې نه راووت وروسته له دوو ورځو څخه دکلي خان ډنډوره ووهله او ټولو خلکو ته یې خبر ورکړ چې زما دپیسو امیانۍ ورکه شویده چخلکی چې ددې آوازې نه خبر شو سمدلاسه دکلي خان ته ورغی او ورته وې ویل چې دپیسو امیانۍ ستاسې په خوله کې نیولې وه، او زمانیا ستاسې په کانې باندې وویشت امیانۍ یې دخولې وغورزیده او زمادې کور ته راوړه. خان یې خبره ومنله مګر وروسته له هغه خان پوښتنه تری وکړه چې کومه ورځ وه، چخلکی ورته وویل په هغه ورځ چې دشکرې باران او دباد طوفان و. خان چې داخبره واورېده ورته وې ویل چې ورک شه دروغ وایې. چخلکی تری راغی کله چې دچخلکی نیا ددې خبرې نه خبره

شوه، په چخلکی باندی یی ډیر زیات منت وکړ اوورته یی وویل چی بیا داسی کارونه کړې . په دی وارد چخلکی نیا دخان لــه پنجـو (دچخلکۍ په دی خبره چی دشـکری باران اودباد طوفان و) خلاصه شوه بله ورځ بیاچخلکی دخپلی نیا څخه پوښتنه وکړه چی ادی جلی څنګه مینه کیږی، نیایی ورته وویل: چی دجلی کورته چی یوه ورځ بله ورځ . . . لوټی او کانی وروشړی جلی خپله مینه کیږی نیایی داخبره دټوکو په ډول ورته وکړه، چخلکی چی داخبره واوریده نودخان باغ ته ورغی اودخان لوریی په کاڼی باندی سر تــه وویشته مړه شوه خوله یی خلاصه اوغاښونه یی سپین وښول، چخلکی سمدلاسه کورته راغی اوخپلی نیاته یی وویل چی ادی مادخان لورپه کانی ســرته وویشته اوپه ماباندی مینه شوه نیایی چی داخبره واوریده ډیره وارخطا شوه په منډه دخان باغ ته ورغله که ګوری چی دخانـلور مړه شوی ده. سمدلاسه یی دخان لور کوهی ته ور واچوله اوچخلکی ته وویل چی ته ورځه کورته چخلکی چی کورته ولاړ اودنیا ستر ګونه پنا شونویی سیرلۍ (داوزی زوی) حلال کړ اوهغه یی هم څاته وروا چاوه نوره دچخلکی نیا کورته راغله. پس له څه وخته خان دخپلی لور پوښتنه کوله چی چیری ده لاکن هیچاته پته نه وه معلومه وروسته له ډیر تلاښ اولټونی څخه خان خلکوتـه خبر وکړ چی زمالور ورکه شویــده.

چخلکی چی داخبره واوریده بیا خان ته ورغی اوورته یی وویل: چی ستالــورمی مینه کوله په کانی بانــدی می وویشتـه بیامی

نیاته داخبره وکړه چې په مابانډی دخان لورمینه شوه پـه کانی می وویشته، نیامی ستاباغ ته راغله اوستالوری کوهی ته ورواچوله خان خلـک کوهی ته ور کوزکړل که ګوری سیر لی یی راوو یستـه. دلورد رك یی معلوم نه شو، خان چـخلکی ته وویل چی درو غجنه بیاچی داسی دروغ ونه وایی لیونی بی دکورڅخه مه راوزه. دچـخلـکی نیا چی بیا د دی خبری نه خبره شوه چـخلـکی یی دومره ډیرو وهلو چی بیادکورڅخه دباندی ونه ووت.

دریم فصل

دودونه

پښتنو له ډیره وخته دخپلو محیطي شرایطو اونورو عنعنوي اصولو سره سم داجتماعي ژوند کړووړو له پاره په خپلو منځو کې ځینې قومي او اولسي تړونونه اوپریکړې جوړې کړې، اودهغو تړونو اوپریکړو مطابق خپل ورځینې کارونه کوي. دغه اصول، او دودونه له هماغه پخوا وخته په اولس کې پاتې شوي او د اولس خلکو د یوه منل شوي شي په توگه ورڅخه کار اخیستی دی . دغه دودونه د پیړیو په اوږدو کې له یوه نسل څخه بل ته پاتې شوي او تر نن پورې د پښتنې ټولنې سره په بیلا بیلو برخو کې په هغو دودونو چلند کیږي او عوام خلک د خپل اجتماعی ژوند ټولې چارې د د غو دودونو له مخې ترسره کوي. ځینې دودونه په اولس کې د خپل اهمیت د لاسه ورکولو له امله له منځه تللي دي او ځینې لاتراوسه هماغسې پاتې اوپه خلکو کې د منلو وړ دي .

موږ په عمومي ډول د پښتنو دودونه په دریو عمده برخو ویشلي شو . لومړی هغه دودونه دي چې د کلونو او وختونو په تیریدو کې منځ

ته راغلی، و ده اوانکشاف یې کړې مګر په آخر کې بیاد زوال سره مخامخ شوې او بالاخره له منځه تللی دی. دوهم ډول یې هغه دودونه دي چې په یوه دوره کې منځ ته راغلی اودخلکو تر منځ یې کړی ټینګه کړې ده ، مګرد یوې بلې دورې په منځ تـه راتلو سره یې اهمیت او ارزښت لږ شوی دی خو بیخی له منځه نه دي تللی، او د منځه تللو په حال کې دي . دریم یې هغه دودونه دي چې له ډېرې پخوانه راپاتې او یا یې په پخوا وختو کې خښته ایښودل شوې دوخت په تیریدو سره یې انکشاف موندلی او اوس داسې حالت ته رسیدلی دي چې په ټولنه کې خو را ټینګ شوي دي او دهغو له جملې څخه ځینې بیاداسې مرحلې ته رسیدلی چې دعامو خلکو له پاره یې ډېره د ردوونکې او ملامتوونکې بڼه غوره کړې ده. له دو دونو څخه دبشري ټولنو داجتماعي روابطو، روحي او کلتوري خصوصیاتو او کړووړو په سپړنه او څېړنه کې ډېره په زړه پورې استفاده کیدای شي. همدغه دودونه دي چې د بشر پوهانو له پاره د یوې جامعې د خلکو په څېړنه او هر اړخیزه پوهیدنه کې ډېر ګټور او با ارزښته بریښي .

د پښتنې کلتور د دغې خوندورې برخې ټولو لوته زموږ د ټولنې د کلتوري خصایصو د پوهیدنې په منظور په هرساحه کې ډېره اړتیا لیدل کیږي . که څه هم د دغو دودونو د ټولولو له پاره له څو موديو را په دې خوا کار پیل شوي ، خو لکه څنګه چې معلومه ده د ټولو پښتنې سیمو دودونه تراوسه نه دي راټول شوي . که له هغو خورو ورو

مقالوچی د پښتور په خپرونو اودکوټی په اولس مجله کی او زموږ د هېواد په بیلا بیلو خپرونو او د خپلو اکی ترون پـه زیاترو گڼو کی خپرې شوې تیر شو ـ بشپړ کار پـدې برخه کی په پراخه پیمانه نه دی شوی او تراوسه د غـه لانـدې درې مستقل کتابونـه موږ تـه پـه دې موضوع باندې معلوم دي :

۱ ـ پښتنی دودونه : دغــه اثر د ښاغلو محمد گلاب ننگرهاري عبدالخالق واسعی ،محمدعالم اتمان او محمدابراهیم ثابت له خوا په گډه لیکل شوی د کندهار، پکتیا او غزنی د ځینو سیمو دودونه یی پکی معرفی کړي دي (۱)

۲ ـ زمونږ ژواك : پـه دغه کتاب کی دبلوچستان د پښتنو دودونـه (له زانگو نه تر هدیرې پورې) ښاغلی عبدالقدوس پوپل راټول کړي دي(۲)

۳ ـ د پښتنو دودونه : د ښاغلی غلام محمد تألیف دی ،چی د غزنی د شاوخوا او مقر د پښتنو دودونه پکی راوړل شوي دي (۳) .

همدارنگه په ځینو کتابونو کی چی د بیلا بیلو پښتنی سیمو په کلتور لیکل شوی هلته هم دهماغو سیمو دپښتنو دودونه لږ و ډیر معرفی شوي دي .

هغه آثار چی دپښتنی دودونو په باب مستقل خپر کی لري دادي:

۱ـ هلمند د کلتور په ساحه کی :ددغه کتاب په څلورمه برخه کی

۱ـ دغه کتاب (۲۰۱) په مخونو کی په ۱۳۳٦ هـ ـ ش کال پښتو ټـولنی خپور کړی دی .

۲ـ وگوری! زموږ ژواك (۱۱۷) مخونه (۱۹۷۲) ع کال د کوټی چاپ پښتو اکېډمی .

۳ـ دپښتنو دودونه په ۱۳۵۳ ش کال په (۲۳۲) مخونو کی د ادب او فلکلور د آمریت له خوا چاپ شوی دی.

دهلمند دخلکودعرف اوعادات ترعنوان‌لاندې دهلمندي‌پښتنودمړي اووادە دودونه راوړل شوی‌اوهم یې ځینې نورعادات اوړ واجونه يکې‌راغلی‌دي (٤)

٢ ـ پښتانه لومړی‌ټوك: ددغه کتاب د(مومند) په بحث کې دمومندو په‌ځینو دودونو رڼا اچول‌شوې‌ده (٥)

٣ ـ پښتانه دوهم‌ټوك : په‌دې کتاب کې داپریدیو (٦) اورکزیو (٧) اووزیرو (٨) پښتنو ځینې‌دودونه‌راوړل شوي‌دي .

٢ ـ کندهار : په‌کندهار نومی کتاب کی (دکلتوري وضع) ترسرلیك لاندې ددې سیمې ځینې‌دودونه راغلی‌دي (٩)

٥ ـ فولکلوري گیډۍ: ددې کتاب په‌یوه‌فصل کې‌دودونه‌دي‌او په دې‌دودونو کې دمنگلو دسیمې په‌ځینو دودونو رڼااچول‌شوې‌ده (١٠)

٦ ـ اولسي پوهه: ددغه کتاب یوفصل‌دودونه دي او په هغه کې دواده دود، دمړي دود ،دجومات‌دتودولو او ځینې نوردودونه دپکتیا دمنگلو دسیمو معرفي‌شوی دي (١١)

٤ـ وگوریء! هلمند دکلتور په ساحه د ښاغلی عطایی (٣٧ ـ ٦٢ مخونه) ١٣٤١ هـ ـ ش کال د لینکرگاه چاپ.

٥ـ وگوریء! پښتانه‌د دوهم تـوك ٨٣ ـ ٩٦ مخونه (١٣٥٠ هـ ـ ش کال دکابل چاپ)

٦ـ وگوریء! پښتانه‌لومړی تـوك ١٣٢ مخ نا وروسته (١٣٤٩ع کال دکابل چاپ)

٧ـ همدغه کتاب ١٥١ ـ ١٥٣ مخونه

٨ـ همدغه کتاب ١٨٢ ـ ١٨٦ مخونه

٩ـ وگوریء! کندهار٢٢٧ ـ ٢٦١ مخونه ١٣٥١ کال چاپ د ښاغلی‌محمد ولي ځلمي.

١٠ـفولکلوری گیډۍ ٧١ ـ ٨٢ مخونه د ١٣٥٥ کال چاپ.

١١ـ وگوریء! اولسي پوهه، دعلي محمد سوبمن ١٧ ـ ٩٠ مخونه د ١٣٥٦کال‌چاپ.

ماهم وغوښتل چې دپکتیا دخوست دسیمې د ځینو هغو د دو نو نمونې راغونډې کړم چې اوس له منځه تللي او یا د منځه تلو په حال کې دي، او ځینې یې تراوسه پورې شته . دغه دودونه زما د کتاب یو فصل جوړوي هیله ده چې زما دغه زیار او دنورو ښاغلو لیکوالو هاند او کوښښ چې په دې برخه کې یې کړي د پښتني ژواك په څېړ نه کې له محققینو سره مرسته وکړي . زه لو مړی هغه دودونه دنمونې په توگه راوړم چې اوس زموږ په اولس کې شته او بیا به هغه دودونه راوړل شي چې اوس دمنځه تللو په حـال کې دي او په پای کې به هغه دودونه راوړم چې اوس هم شته . یوه بله خبره چې دلته یې یاول ضروري دي داده چې دپښتني دودونو دټولو لـو پـه لړ کـې اروپایانـو هم کـار کـړی دی هغه استعمار گر اروپایان چې د (۱۹) پیړۍ په حدودکې دپښتو نخـوا سیمو ته ددوی دلوتلو او ز بیښولو دپاره راغلل په دوی کې ځینې داسې خلك هم وو ، چې دپښتنې کلتور او گړنی ادب ځینې نمونـې یـې هـم راټولې کړی او په خپلو ژبو یې په ځانته مجموعو کې خپرې کړې . د(۱۹) پیړۍ په اوآخر او دشلمې پیړۍ په پیل کې چې انگریزانو د پښتني سیمو په باب کوم (گزیتیرز) چاپ کړی دي په هغو کې دد غـو پښتني سیمو په باب دنورو معلوماتو ترڅنگه ددوی په دودونو کې هم خبرې شوې دي دمثال په ډول که چیرې موږ دافغانستان، پېښور ، ژوب، سبوی او لور-لایي (گزیتیرز) وگورو په دغو خپرونو کې دپښتني دودونو ځینې اشکال خوندي شوي او دپښتني دودونو لومړ نی لیکل شوی شکل لـه همد غـو

خپرونو څخه ز موږ تر ګوتو کيږي .
دغه رنګه د پټي حيات خان په «حيات افغاني» کې دځينو پښتنو دودونه راوړي دي .

داختر په ورځو کې داتڼ دود

دادود له ډيرې پخوانه په خوست کې موجود او داڅو کاله کيږي چې له منځه تللي دي ، ددې دود شکل داسې ؤ :
هغه وخت به چې لوی او کوچنی اختر راورسيد نو ددودی له خوړلو نه وروسته به دهر قوم ټول خلک بالخصوص ځوانان هغه ځای ته تلل چې دوی به خاص داختر دورځو دخوشحالي تيرولو له پاره ټاکلی ؤ. هلته به ډولونه وهل کيدل خلکو به اتڼونه کول او سندرې به يې ويلې کله به چې ماز يګر شو نو ټول به خپلو کورو ته تلل سبا به بيا بيرته هماغه ځای ته راتلل دغو ننداروبه دری ورځې وخت درلود مګر کله کله به ترشپږ واو يا اوو ورځو پورې هم اوږدې شوې .
دوخت په تيريدو سره دغه قومي ننداری ورکې شوې او بيا به په ځينو ځينو کليو کې اجراکيدې خو په آخر کې يې داسې شکل ونيو چې دکلي خلک به دکلي د مشهور سړي د يری ته ور تلل او هلته به يې داختر خوشحالي تيرولي مګر په وروستيو کلونو کې دغه دود په عمومي ډول له منځه تللي دي .

دلويانو لوبې

دادود په دې ډول و : چې ديوه کلي او يا دڅو کليو ځوانان به سره راټوليدل او هره ورځ به يې خپلې کليو الي لوبې کولې . سپين ږيري

او نورخلک به ورته ناست وو او ددوی دلو بوننداره به یې کوله دالوبې اکثره په ژمي کې له مازیګرنه تر ماښامه پورې کیدې . لوبیانو به د شکری د بیلدی او تمکو ګټلو او نوری لوبې کولې په اوسنې وخت کې دلوبیانو لوبې له منځه تللې او یوازې ماشومان کله کله لیدل کیږي چې په دې لوبو اخته وي .

دوسلې ګرځول

په پخوا وختو کې داسې دود و چې اکثر وخلکو به وسلې لکه توپک، خنجر، ساتوره (پیش قبضه) او نور دهمیشه له پاره له ځانه سره ګرځول او خوند به یې ترې اخیسته بالخصوص ځوانانو به دا کار ډیر زیات کاوه ځینو خلکو به دخپلو بدیو دلرلو له امله خپلې وسلې شورولي خو ځینو به دخوند له پاره. او دابه نه معلومیده چې څوك بد لري او څوك یې نه لري مګر په دې وختو کې چې د خلکو د ژوند سطحې یو څه تغیر کړی او توجه یې نورو خواوو ته ګرځیدلې ده نو دغو وسلو د ګرځولو دود هم له منځه تللې او یوازې هغه کسان چې بدې لري وسله ګرځوي .

دغنمو تېرولول

د پورتنیو دودونو په لړکې یو بل دود هم شته چې پخوا یې په لویانو او کوچنیانو کې رواج درلود او په دې ډول وو : کوم وخت چې به دغنمو درمند و نه واخیستل شول نو تر لوخلکو به غنم خپلو

کوروته یوړل په دې وخت کې به د نږدې کلیو ځوانان سره ټول شول د دې ځوانانو به یو یادوه او یادرې تنه مشران لرل داکثرو ځوانانو سره به لرګي هم په لاس کې وو، او یو تن به یو اوږد لرګی درلود په سر به یې کوم دسمال یا سور رخت د بیرغ په نامه تړلی وو، د هر کور دروازې ته به درېدل غنم به یې دامین کې (خیرات) په نامه ترې غوښتل. کله کله به داسې هم پیښیده چې دغه ځوانان به د خپل قوم څخه نوروقومونو ته هم ورپسې تلل او داګرده (۱) به یې کوله. کله به چې بوه شول، چې غنم ډېر زیات ټول شوي دي نو به یې خرڅ کړل او خپل کلي ته به راغلل وروسته له هغه به یې په هغو پیسو ترهغې پورې میلې کولې ترڅو به چې پیسې ورخلاصې نه وې. کوچنیان به هم ددوی په ډول په غنمو پسې تلل او په همدغه شکل کار به یې کاوه، مګر په اوسني وخت کې دلویانو او کوچنیانو دغنمو ټولو اودغه دود بیخي له منځه تللی دی.

د میلې دود

پخوا د کلیو د ځوانانو ترمنځ داسې دود و، چې دژمي په شپو کې او یاد کال په داسې وختو کې چې کارونه به بیخي زیات وو، او هر ځواک به د خپل کار دلاسه ډېر ستړی او ستومانه شوی وو، نو ټول ځوانان به سره ټول شول او هر یوه به د خپل قدرت او وس په اندازه

۱» ګرده: خیرات او دغنمو برخې غوښتلو ته وایي.

دخپل کورنه وریجی، غوړی، چرگی اونورلوازم راوړل کله به یی چی دغه شیان سره یو ځای کړه نو د کلی په یوی داسی ښځی باندی به یی پخول چی هغه به صادقه، امانت کاره اودوودی په پخولـوکی به یی مهارت درلـود او کله بـه داسی هم کیدل، چی په خپله بـه ځوانانو دغه شیان دمیلی په تما کلی ځای کی پخول . دوډی به یی چی وخوړه نو په اتڼو، ساز او سندرو او دشعرو ویلو په مسابقو به یی پیل کاوه ترهغی چی تول ښه ستړی شول بیابه خپلو کورونه تلـل اوس دغـه دودهم له منځه تللی دی.

ددودونو په دوهمه برخه کی بـه ځینی هغه دودونه دروښیوچـی دمنځه تلو په حال کی دی :

دزوی پیدا کیدل

پخوابه چی دچا په کور کی یونوی ماشوم (هلك) پیداشو، او هغه هم په داسی حال کی چی نوموړی سړی به په خپل کور کی بل هلك اونارینه اولادنه درلود، دتربورانواودښمنانوله خوابه زیات په تکلیف واویا به یی لومړنی زوی ؤ نوخپل نژدی دوستان اوکلیوال به ورته راتلل دتوپکو ډزی به یی کولی اوخپلوانودوستانوبه یی په شپوشپو اتڼونه اوسندرې اوخوشحالی کولی اونوموړی سړی په کور کی به تر دیره پوری میلمستیاوی وی . تولوخپلوانو، دوستانواوآشنایانوبه دماشوم دکورنی په خوشحالی کی ځان شریك گانه. نن ورځ خبره دی ته را

رسیدلی ده چی نه په هغه اندازه د توپکو ویشتل شته او نه د خپلوانو آشنایانو او کلیوالو خوشحالي . په ځینو کـورنیو کی کله کله داسی هم پیښیږی چی دماشوم په پیداکیدو باندی خپلوان ، آشنایان او کلیوال تر ځوشېو و ر ځوپوری نه خبر یږی او نه د هلك پلار په شپوشپو میلمستیاوی کوی دغه ټول دو د دستور صرف یوی شپی ته راغلی چی هغی ته هم ډیر محدود خلك راغواړی .

د ښځی د واده دود :

پخوا به که چا خپل زوی ، ورور ، تره او یا . . . . ته ښځه کو له ، نو به یی د خپلو دوستانو ، آشنایانو او نږدې عزیزانو سره مصلحت او مشوره کو له . د ټولو دوستانو او آشنایانو نظریـات به یی د ښځی او د هغی د کورنی په باب اوریدل . که ټولو به مشوره ور کړه ، چی داښځه و کړه ، نو کړ له به یی او که به یی ورته وویل چی مه یی کوه نو له هغی معاملی څخه به تیریده . د ښځی په کو لوسره به ډیرزیات توپك ویشتل کیدل ، د ښځوا و نرواتڼو نو او خوشحالیو به ځو ورځو او شپو دوام کاوه ، مگر په دې وختو کی یی بڼه او ښتی او داسی حالت ته رسیدلی ده ، چی د هرچا چی په کوم ځای کی ښځه خوښه شی ، ددې پرځای چی له خپلو دوستانو سره مصلحت او مشوره و کړي په خپله د جلی پلار ، ورور یا نورې کورنی سره د پولی پتی او نورو په برخه کی لاس ورسره نیسی ، او ښځه کوی او هغـه خوشحالی او اتڼو نـه او میلمستیاوې چی پخوا به په شپوشپو کیدې ډیرې لږې شوې دي .

اربکــی

پخو معمولاً په قومونو کی به د هر کلی څخه په دایمی او موقتی دول ځینی تکړه او قوي کسان داربکیو په نامه انتخابیدل. همیشه به یی د خبرودوړلو، راوړلو د جنګ خبر، ناغی د خلکو ټولول او نورې وظیفی سر ته رسولی او هغوته به د قوم له خوا تنخواه یا نورشیان ورکول کیدل. اکثره وخت به یی دشپی اوورځی پیرې کولی دغه دود که څه هم پخوا ډیرز یات و، په اوسنی وخت کی هم کله کله د ضرورت په اساس اربکی تشکل کیږي. مګر هغه پخوانی بڼه یی له لاسه ورکړې ده اودغه دوددله منځه تللو په حال کی دی.

دچیغی وتل:

په پخوا وختو کی به که د چا څخه غلاوشوه یا به داوبو سیل راغی یابه دکوم کور څخه چا ښځه وتښتوله او یا به نور کلیوالی اوقومی موضوعات پیښ شول. نو یوتن به ددم کورته ورغلو هغه به یی خبر کړ او ورته به یی ویل:

چی د چیغی دول ووهه. دم به چی د چیغی دول و واهه نو ټول خلك به هماغه ځای ته راغلل چی هلته به د چیغی دول و هل کیده وروسته له هغه به خلك په هماغه کارپسی تلل. دچیغی وتل ډیرز یات رواج وه په اوسنیو وختو کی یوداچی دغه دول کارونه ډیر لږ پیښیږي دوهم دا چی که شخصی موضوعات وي نودغه شخص دم نه خبروی

چې ډول ډول اودپښتو اپه شان ترل خلك يو اتفاق نه وركړى نوله همدغه سببه دغه دود اوس هم دمنځه تللو په حال كې دي .

دزيرى كول

پښتوا به كه د چا په كور كې كومه ښادي پېښه شو ه؛ نو د خپل كلي دم ته به يې خبر وركاوه چې زموږدوستان اوآشنايان راخبر كړ ه. دم به چې په هر دوست او اشنا باندې زرى وكړ، نو هغه به د خپل وس اوتوان په اندازه پيسې يا كوم بـل شى ور كاوه په اوسني وخت كـې يې ښه اوښتى ده اوس كـه چاته ښادى پيدا شي نـو دخپـل كـورېـوتـن خپلـو دوستانو تـه د زيـرى لـه پـاره وراليږي اودوستان يې زرى ده ته وركوي اول ـ زخلك پيدا كيږي چې دم خپلو دوستانو او آشنايانو ته دښادۍ دخبر ولوله پاره ليږي، هغوى خو اول زرى نه وركوي او كه وريـې كـړ بيا هم دپښتو اوختوښخه كم وى .

ددودونو په دريمه برخه كې به هغه دودونه دنمونې په توگه در وښيو چې تر اوسه پورى شته :

دښځې دولوردود:

دخوست په سيمه كې دښځې دواده دودپه دوه ډوله دی: يو پـه پيسو او بل په بدل .

۱ ـ په پيسو دغه دودله ډيرى پښتوا ښخه رواج دى اوپـه هرقوم كې دپيسو اندازه معلومه وى چې له لـوزرو نه نيولى تـرشلو يښتو زرو پورى وى اودپيسوز ياته اندازه يـې له نورو شيانو ښخه تـر پښتو

سواوشپیتوزرو پوری هم رسیږی او پدی څو کالو کی دپیسوانـدازه ان تر یو لـک دو واو در یو لـکو پوری رسیدلی ده. دښځی دولو ر په برخه کی اوس اکـثروخلـکو له پخوانیو نرخو نو څخه سترگی پټی کـړی یوازی ددوارو خواوو په جوړ یدلو پوری اړه لری چی په هرڅو مره سره جوړشول . دولو ر دغه دود دیر ملامتو ونکی او دردناك دی دجلی موراوپلار ددی پرځای چی دخپلی لور ژوند په نظر کی و نیسی پـه پیسوپسی گرزی اومقابل لوری یـی هم دارتیاله مخی ور کوی. که په آینده کی یـی ژوند هرځنـگه وی په دی پسی نه گرزی مقصد یـی دښځی کول دی.

۲ ـ په بدل : ځینی خلـك چی دښځی دواده اوو لوو طاقت نلری که چیری په کور کی کومه نجلی ولری نو هغه په بدل کی ور کوی که چیری نوموړی جلی وړه وی نو هغه ددوارو جا نبو په رضایت دوړی جلی په پلاریانو ره کورنی باندی دپیسوسرزدی چی اندازه یـی له شلوزرونه زیاتیږی .

په دی ډول ودونو کی یواوی زیان شته او هغه دادی : که چیری یو له دغودوارو کورنیوپه خپلی نږور باندی ظلم، تیری اوو هل ټکول وکړی نو مقابل لوری بـی له دی چی په جلی (نږور) کی گناه وی او که نه وی په هغی باندی هم دوه چنده ظلم کوی او دخپلی لور کسات ځنی اخلی. ځینی خلـك بیاله دغه ډول دوستی څخه ډ یره کرکه او نفرت کوی .

دعـوه

که دکوم سړی دچا سره پر یوه موضوع شخړه پیښه شي او دعوه منځ ته راشي نو دغه دعوه په دوه ډوله فیصله کوي، یو یې په رسمي ډول او بل دجرگوا و مرکو په ډول .

دجرگوا و مرکو په ډول دعوه په پنځه قسمه وي: ۱ـ دکلي خلک ۲ ـ دوستان، ۳ ـ ملایان، ٤ ـ دنوم سپین ږیري، ٥ ـ دقومو نو نرخیان.

۱ـ که چیري موضوع وړه وي نو دواړه خواوي دکلي سپین ږیري او نیک خلک چي شمیر یې ډیر زیات نه وي راغواړي او دهغوی په خوله جوړه سره کوي .

که دواړه طرفه سره عزیزان او یا خپلوان وي او دکلي په خلکو سره جوړ نه شول نو بیا داسي دوستان راغواړي چي د واړو سره ددوستي اړیکي ولري، هغه بیا دغه دعوه ورفیصله کوي .

۳ ـ ځیني وختونه بیا داسي کیږي چي ددوستانو په شمول دوه دري تنه ملایان هم راغواړي ، یو وخت یوه خوا رابلل شوو کسانو ته ډوډۍ ورکوي او بل وخت بیا بله خوا . په دي ترتیب سره ترهغې ډوډۍ سره ورکوي ترڅو چي یې دعوه ورحل کړي نه وي او یا یې دغو خلکوته دنه جوړیدو ځواب ورکړی نه وي . که سره جوړ شول او یا نه شول نو رابلل شوي ملایان رخصتوي دغه ملایانو ته ددواړو خواوو په مشوره هرڅومره پیسې یې چي ورته تاکلي هم ورکول کیږي . .

۴ ــ کله کله وړې دعوې په غښو دعوه بدلیږي او خبره دکلي نه قوم ته ته رسیږي ، په دغه ډول دعوه کې بیا دواړې خواوې دقوم مشران راغواړي،دقوم مشران یې په قومي نرخ ورخلاصوي.ځینې وخت دعوه کوونکي په قومي نرخ نه جوړیږي دلته ملایان راغواړي اوخبره په شریعت ورفیصله کوي .

۵ ــ که کوم وخت دعوه په دغوخلکو هم خلاصه نه شوه او خبره دکلي نه قوم او دقوم نه قومونو ته ورسیده، بیادهرقوم نه داسې خلک چې په پښتني نرخونو (ترونونو) کې واردوي راټولوي په داسې دعواوو کې اکثر،وخت لوی لوی ملایان او عالمان هم برخه لري. دواړې خواوې په قومي نرخ سره جوړیږي،نو نرخیان فیصله ورکوي او که شریعت یې خوښه وي بیایې ملایان دعوه ورخلاصوي که کوم یو په دې باندې هم بیانه دریږه نو هغه ته ملامت وایي اوټول خلک ورته یولاس کیږي . ځینې وختونه داسې کیږي چې که یو څوک کومه ښځه وتښتوي او ښځه میړه ولري نو محلي دوددا سې دي چې دواړه سره مړه کړي اوښځه پریږدي نوپه نوروړي سري باندې مړې پورشواو کهچیرې دواړه مړه کړي بیانو خبره خلاصه ده. که چیرې دهغه سړي ښځه چې ښځه یې ورنه تښتولې ده دومره زوراوقدرت ونه لري چې یویادواړه مړه کړي بیانوجوړه ورسره کوي اوپخپله ښځه هغه سړي ته چې تښتولې یې ده ورطلاقوي او هغه یې ځانته نکاح کوي مگرځینې وخترنه داسې هم کیږي چې څوک ښځه وتښتوي بیابل وطن

ته تښتي او فرار کوي نه په جوړه پسې ګرځي او نه په طلاق پسې او بدې تر کلونو کلونو او پيړيو پيړيو پورې پاتې کيږي هغه ښځه چې ميړه ولري يا يې خوك وتښتوي په محلي اصطلاح کې د «کونیښکلی» ورته وايي او که چيرې داسې ښځه چې پيغله وي وميړه ولري خوك يې وتښتوي نو دلته يادواره سره مړه کوي اوکه چيرې يې مړه نه کړل نو دښځې وارث جوړه ورسره کوي او دښځې تښتونکي دښځې دو لور هغه پيسې ور کوې چې په سيمه کې رواج وي اودواړه سره دوستان کيږي .

که چيرې کوم سړی په يوه خبره يا يوه موضوع مړ کړي مقابل سړی يې هم مړ کوي. که چيرې يې مرګ دلاسه نه ؤ پوره بيانو په قومي نرخ ورسره جوړيږي او هغه په اولسي دول چې دمړي په بدل کې په يوه ښځه ور کوي اونوري خومره پيسې يې چې په کيښوو ي هغه به ور کوي . وروسته ددوی په منځ کې مرګ اوژوبله له منځه ځي.

غلاکول

که چيری خوك په غلا کې ونيول شي او ياغلاور باندې ثبوت شي که يې وبا ښه نوخلاص شو او که يې ونه بانښه نو محلي دوددا سې دی چې نوموړي غ , به تول شيان هرڅه يې چې غلا کړي وي ور کوي اوهم به دغلا شرم هرڅومره يې چې ور باندې کيښود ور کوي. دغلا شرم معمولاً يو پيسه وي کله کله پر پيسه علاوه پنځه سوه يا يوزر افغانۍ

هم ورباندی زدی، ځینی وختونه بیا په دی شرم هم نه قانع کیږی له دې
هم زیاتی پیسی غواړی او دا هم وایی چی ننواتی دی راته وکړی وروسته
له هغه بیا غل سری پریږدی .

ناغه

دخوست په سیمه کی دناغی دود په دری ډوله دی : لومړی دقوم
ناغه، دوهم دکلی ناغه دریم دیو یا څو تنو ناغه چی دا بیا هریو څو ډولونه
لری دلته یی په لاندی توگه وړاندی کوم :

۱ ـ دقوم ناغه دبل قوم په مقابل کی : په اکثره قومونو کی دپخوا
وختونو څخه ځینی پریکړی اونرخونه موجوددی چی
د هغوله مخی هیڅ قوم دبل قوم په مقابل کی تیری اوظلم نه کوی. که
کوم څوك له هغو پریکړو اونرخونو څخه تجاوز وکړی دبل قوم له
خوا ناغه کیږی او هغه قوم د خپلو پخوا نیو اصولو په مطابق ناغه ورکوی
مثلاً که دد ووقومونو ترمنځ دیوی عامی صحرا دوښو په باب چی په
هغه کی به هیڅ قوم تردی وخته پوری خپل حیوانات نه څروی یا
د هغه دلرگیو دشول ماتوا وپه برخه کی که کوم یو قوم له خپلی خبری
واوښت نود قومی ناغی په نرخ سره ناغه کیږی او که ښښنه یی وغوښته
ښښی یی او که یی ونه باښه نوپه ناغه ورکولو مجبوردی . ځینی
وخت داسی هم پیښیږی چی له دغو کارونو څخه سخت کارونه
ددوو قومونو ترمنځ پیدا کیږی، مثلاً که چیری د یو قوم سړی ته دبل
قوم خلك په ناحقه بی ابی سپکه او یا نور بد اعمال ورسره وکړی نود هغی
ناغه بیا ډیر سخته وی او کله کله خبره مرگ اوژوبلی ته رسیږی .

۲ــ د قوم ناغه د کلي په مقابل کې :

که چیرې په خپل قوم کې کوم کلي د قومي اصولو مخالف کار وکړي نو هغه کلي د خپل قوم له خوا ناغه کیږي ، مثلاً که د دوو قومو ترمنځ کومه موضوع پیښه شي یو کلی یا جنګ ته ورشي یا تاوان ته حاضر نه شي یا د خپل قوم خبرې هغه بل قوم ته یو سي او یا د غه کلی د خپل قوم او به پټې ولګوي او داسې نور ، نو خپل قوم ته چې هر څومره یې خوښه وي ناغه (جریمه) ور کوي .

۳ــ د قوم ناغه د یوه تن په مقابل کې: که چیرې قوم یوه خبره وکړي یا پر کومه موضوع باندې فیصله وکړي او په قوم کې یو داسې سړی پیدا شي چې د قوم د خبرو او فیصلو مراعات ونه کړي بیا نو د خپل قوم له خوا ناغه ورته تاکل کیږي هغه سړي یې هم باید ورکړي ځینې وختونه داسې پیښیږي چې هم دغه سړی د ځینو لویو غلطو کارونو په اثر شړل کیږي یا یې کور سوزول کیږي او وهل کیږي او داسې نور .

دوهم د کلي ناغه د قوم په مقابل کې : ځینې وختونه داسې پېښیږي چې یو قوم جګ شي په یوه کلي باندې تیرې وکړي نو هغه کلي د قوم سره دعوه کوي کله چې قوم ملامت کړي نو خپله تاکلې ناغه او یا هر څومره تاوان یې چې کلي ته ورسولی وي تاوان ترې اخلي دغه دعوې عموماً په ځمکه ، لارو او یا نورو قومي شیانو باندې وي .

۲ــ د کلي ناغه د کلي په مقابل کي : که چيري کوم کلي د بل کلي په مقابل کي تجاوز وکړي نود عوي له فيصلي وروسته ناغه ورکوي مثلاً که چيري يو کلي دبل کلي په ځمکو کي نوي ويا له تير وي يا د هغوي ونې لنډ وي يا يو کلي د بل کلي او به لګوي او يا په ځينو نورو شيانو کي ځان ورګډ وي نو د عوه ورسره کوي. کله چي تيري کوونکي ملامت شي نود قومي اصولو په اساس ناغه ورکوي او که ملامت نه شو نود عوه کوونکي کلي کرار کښيني .

۳ــ د کلي ناغه ديوه تن په مقابل کي : که چيري په يو کلي کي داسي سړي پيداشي چي د خپلو کليوالو سره ځمکه فصل، ونه، لار، اوبه او يا په نورشيانو د عوه جوړه شي او بيا د خلکو له خوا ملامت شي نود خپلو کليوالي او قومي نرخونو او پريکړو پــه مطابق جريمه او ناغه کيږي. که چيري يې ناغه ورنه کړه نو کله کله داسي هم پيښيږي چي ټول کلي نو موړي سړي په سر شړي يعني په ښادي او ژوندي ښو او بدو کي ګډون نه ورسره کوي او يو ازي يې پريږدي يا يي پــه ټولو وهي او يا نور اعمال ورسره کوي .

دريم ديوه تن ناغه ديوه تن او ښځو تنو په مقابل کي : که چيري په کلي کي يــوه سړي دبــل سړي او يــا ښځو تنــو سره پر کومــه موضوع باندي د عوه پيداشي نو هغه د کليوالي او قومي پريکړو پــه مطابق د ناغي ورکولــو سره حل کيږي، هر يــوي چي و نه مني نــو ملامت وي او ټول را ببلل شوي کسان بياورته په يوه خوله وي .
ددغه ډول ناغي دوهم او دريم شکل هم په پورتنيو د ولو نو سره حل کيږي.

PROPERTY ACKU 6244